
ناول
شیخ خالی
Ketabton.com
لیکوال:
سمیع الدین سعید افغاني
Sameuddin Afghani

ketabton.com - The Digital Library

شین خالی

ناول

د انځوریزې شاعرۍ یوه بیلګه

سمیع الدین افغاني

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : شین خالی

لیکنه : سمیع الدین افغاني

د چاپ کال : ۲۰۱۰ م ۱۳۸۸ ه ش کال

خپرندوی: افغان ننګ ویب پاڼه

کمپوز او ډیزاین: اجمل اکبري

د چاپ ځای: د حق د لارې کلتوري ټولنه

E-Mail :s-afghani@hotmail.de

د افغان ننګ د ښکلې پانې د قدر وړ کارکونکو په خاصه توګه د اجمل اکبري صیب نه د کتاب د خپرولو او ډیزاین نه یوه نړي مننه ، کور مو ودان.

سمیع الدین افغاني

ketabton.com - The Digital Library

خپلې خبرې

درنو لوستونکوو !

د شین خالې ناول چې په څوارلسو برخوکې د لنډو کیسو په ډول د هیواد په بیلابیلو خپرونوکې په ځانګړې توګه د انټرنیټ په پاڼوکې خپورشوی دي ، زمونږ دګران هیواد دکلواو باندو او کلیوالي ژوند یــوه نــوې شان بیلګه ده چې زمونږ د وروسته پاتې ژوند هغه ناخوالې په ګوته کوي کوم چې زمونږ هیواد وال په تیره بیا ځمونږ ځوان کول یا نسل پــه څومره ستونــزو او کړاونوخپلو هیلو او ارمانونوته د رسید لو لپاره هلې ځلې کوي ترڅــو خپلو سپیڅلو اهدافو ته ځان ورسوي.

زمادغه لیکنه زمونږ دهیواد دکلو ا وباندویوژونــدی انځوردی چې د شین خالې اوډاکتر زیړګل په دغه ناول کې منعکس شــوی دی ا و د ادب مینه والو ته یې په ډیره مینه ډالۍ کوم.
د یادونې وړ بولم چــې په دغې لیکنې دهیواد وتلي لیکوال ، شاعر او کیسه لیکونکی ښاغلي سنګروال یوه سریزه لیکلې چــې دهــغو ددې پیرزوینې څخه دزړه د کــومې مننه کوم چې د خپلو ډیــرو مصروفتونو تر څنګ یې خپل وخت ددې ناول سریزې د لیکلوته وقف کړی دی.
په همدې ډول ښاغلي نجم الدین سعیدي دانځوریزې شاعرۍ تــرسرلیک لانــدې هم یوه ادبي لیکنه کړې چــې دهغوی د اپیرزوینه د مننې اویادولو وړ بولم.

دهیواد ځوان اوتکړه لیکوال او شاعرښاغلي اجمل اټک یوسفزي څخه هم مننه وی یــم چې د ناول پــه لیکلو کې بــې خپلې معنوی مــرستې زماسره شریکې کــړې دي او ددې اثر د چاپ او ډیزاین پــه برخه کې بې هم خپلې مشورو او نژدې مــرستو څخه ډډه نده کړې.

همدارنګه دهغو نشریو اود انټرنیټې پاڼومسؤولینو څخه د زړه د کومې مننه وی یم کوم چې د دغــه ناول مختلفې بــرخې بې د شین خالې د لنډو کیسو ترسرلیک لاندې په خپلو علمي، ادبي او کلتوري پاڼوکې نشر ته سپارلي دي.

په پای کې د درنو لوستونکوو څخه هیله کوم چې ددې لیکنې په اړه خپل رغنده وړاندیزونه او نېې مشورې په مونږ راولوروي.

ومن الله التوفیق
سمیع الدین افغاني

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

د اسې شین خالې هم شته

خوشاله یم چې اوس زمونږ یو شمیر شاعران او د شاعرۍ په څنګ کې د پښتو داستاني او هنري ادبیاتو لیکنې ، ودې او پرمختګ ته هم مخه کړې ده ۰
که د تیرې پیړۍ په لمړنیو لسیزو کې د لنډې کیسې لیکوال او مینه وال د ګوتو په شمیر ووخو اوس په لسګونو دي ۰ ولې د ناول اورومان لیکوال لا اوس هم د ګوتو په شمیر دي ۰
د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ له مخې پښتو لنډه کیسه د لمړي ځل لپاره په ۱۹۰۸م کال و کښل شوه چې د استاد راحت زاخیلي لـه قلمه څخیدلې او ښکه ده او « شلیدلې پنه» نومیږي ۰
همدارنګه نومورې لیکوال بیاد ۱۹۰۹ او ۱۹۱۰م کالو ترمینځ د ماه رخ یا «نتیجه عشق »په نوم ناول چې دیوعیني پیښې انځور دی هم لیکلی دی ۰
که څه هم له دغه ناول نه دمخه د ژباړې پـه بڼه مونږ تـه د دوه نورو ناولونو څرک هم په پښتو ادب کې لګیدلی دی چې لمـړی یې «معرات العروس» دمیا حسیب ګل ژباړه او دویم ناول بیاد تـوبته النصوح په نوم یادیږي چې دغه ناول د میا محمد یوسف په زیار ترجمه شویدی ۰
له دې نه را وروسته په پښتو ژبه کې ناول لیکل دود شول ۰ ولـې دومره نه چې د ناول د مینه والو تنده پرې ماته شي ۰

د نیکمرغۍ خبره ده چې دا دستي مـې د شین خالې په نوم یو اثر تـر لاسه کړ چې ښایي د افغاني صاحب دسترګو لیدلې کیسه وي چې د نومورې له خوا کښل شوېده ۰
کله چې نومـورې ماته د شین خالې په نـوم لیکنه راولیږلـه چې څه پرې ولیکم ،نو په ډیره مینه مې دغه لیکنه سرتر پایه ولوسته ،خدای شته چې زه یې هم خپلو تیرو خاطرو ته ستون کړم او د خپل کلي ، کـور ، او جړې او دیرې مې کپې سترګو ته ودریدې ۰
د شین خالې لیکوال ښاغلي افغاني د خپل کلي ، کور ، دود او دستور په خپله لیکنه کې ډیر ښه انځور کړي دي ،د تورګنیف خبره « یوازې رښتیاویل که هر څومر غښتلي وي هنر ندی » نوځکه خـو د داستاني او هنري ادبیاتـو لیکوال ته پکار دي چې خپلو لیکنو ته هنري جامې په تن کړي ۰
دهر ناول هډوکي او بدنه د ناول مینځ پانګه جـوړوي ،خو د ډې لپاره چې د ناول بدن ته ښکلې اوزړه راښکونکې وریښمینې جامې په تن کړو غوره به وي چې د ناول بڼه د اسې راونغاړو چې لوستونکی یې لـه بڼې او مینځپانګې نه رنګ او خوند واخلي ۰ یانې ډیالوګونه یې اغیزمن ، ژبه یې خوږه او روانه ،کرکټرونه یې باید لکه یې کلماتو ژبه په سادګۍ سره خپل ځان پیدا کړي ۰

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

د ناول کیسه باید بازاري نه وي ، ښه به داوي چې ژبه یې له شعارونونه وژغورل شي په لیکنه کې اضافه کلیمې ،بې ضرورته جملې بیا بیا تکرار نـه شي او ناول باید د راپور تاژ بڼه خپله نکړي ۰
له دې سـر بیره د لیکوال ژبه او ډیالوګونه بایـد د ناول له پیښو او کـرکټرونو سره متناسب وي ۰
نا لستي کلیوال خپله ژبـه لري اود ناول لیکوال بـاید دهغه ښه استازیتوب وکـړي ۰ همدارنګه لوستي کرکټر باید داسې انځورشي لکه څنګه چې دی،ځکه چې ډیالوګونه یو داستاني اوهنریاثر ته سا ورکوي ۰ ولې کله داسې هم پـه ډراماتیکو اثارو کې پیښیږي چې له ډیالوګونو پرته یو هنري اثر د لوبغاړي له هنري خوځښت او اکشن سره لکه بې کلماتو ژبه ځان ښېي ،لکه د چارلي چاپلین ځانګړي حرکتونه چې یو اثرته روح ښني ۰ نوموړي د یو مرکې په ترڅ کې ویلې دي:
پوښتنه : چارلي که چیرې سینما زیږدلی نه وای تاسې به نن څوک وای ؟
ځواب : دهغه دوزخ پـه مینځ کې چې «دانتي» په خپل ګټور داستان «کمیدي الهي » کې انځور کړی دی یو نوم ورکی چارلي وای:

که چیرې موږ د ناول په لیکلو کې د بیلګې پـه توګه یادوشوو ټکو ته پاملرنه وکړو ، ښایي ناول داسې یو ځانګړی ریتم خپل کړي چې ځینې ډیالـوګونه یې ځـان د لنډې کیسې ریتم او شعر ته ورسوي۰
زما په اند په هر داستاني ژانرکې غوره ده چې د یوې کیسې اویا دیوې پیښې نکل داسی انځور شي چې د سوژې پټه دبدبه یې زیانمنه نشي ۰
همدغه لاملونه دي چـې د اوسني داستاني ادبیاتو پـلاټ د تیرو اولسي کیسو اوداستانونو په پرتله دتوپیر وړ دي ۰ کنه دپښتو اولسي داستاني ادبیات زرګونـه کاله عمر لـري چې له پښتنو سره یوځای زیږیدلي دي چې اوس موږ ډیرې بیلګې لـرو چې له اوسني ناول سره ډیر توپیرنلریاو همدغه اولسي کیسې په درې ښو موږ ته را پاته دي:

لمړی هغه کیسې دی چې په دیرو ، اجرو کې د نکلچیانو له خوا ویل کیدې او یا ویـل کیږي لکه د دوه ورونو کیسه۰ددغـو کیسو دویم ډول هغه دی چې ځینې اولسي کیسې پـه نظم ویل شوې دي لـکه ممتاز شاهزاده او ګلوصنوبر کیسې ۰
دریم هغه کیسې دي چې په نظم او نثر دواړو کې کښل شویدي یانې د کیسې مینځ کې نظم ته هم ځای ورکړشویدي چې دغه کار ښاغلي سمیع الدین افغاني هم کړی دی۰

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

مورِ په دغولرغونوکيسو کې دادم خان اودرخانۍ ،سيف الملوک او بدرۍ جمالې او په لسګونو نورې کيسې يادولی شو٠
په پای کـې ګران سميع الدين افغاني ته دشين خالۍ دليکلومبارکي وايم او په دې هيله چې درنو لوستونکوو ته په زړه پورې وي٠

په درناوي
شهسوار سنګروال
۲۰۱۰ - ۸ - ۸ م٠کال
لندن
*** ******

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

انځورېزه شاعري

محترمو لوستونکو !

دا یوه څرګنده حقیقت دی چې په بشري نړۍ کې علم او تخنیک ورځ په ورځ د پر مخ تګ په حال کې دی او نړۍ وال په مختلفو برخو کې د نوی اکتشافاتو شاهدان دي چې بشر د علم ،فرهنګ او ادب په برخه کې هم لازمي لاسته راوړنې درلودلې دي.
پدې بحث کې په مشخصه توګه هغه لاسته راوړنو ته اشاره کوم ،کوم چې د هرې جامعې د کلتور او ادب پورې تړاو لري او په هغه کې د لیکوالانو او شاعرانو ونډه او فعالتونو تر څنګ هغه لاسته راوړنې چې د ژبو او ادب د غنې کیدو په اړه تر سره کړې یادونه کو م.

هره بشري ټولنه ځانله پوه او مدبره علمي شخصیتونه ، لیکوالان ، شاعران او هنرې استعدادونه لري چې هر یو یې په خپله برخه کې د جامعې او خلکو لپاره په خپل وخت کې مشخص خدمتونه د خپلې پوهې او قلم له لارې سرته رسولې چې دهغوې ابتکارات او هلې ځلې تلپاته او نه هیریدو نکې دي.
مور په هیوادونو او نړۍ کې مشهوره لیکوالان پیژنو چې د هغو تاریخي لاسته راوړنې د قدر وړ او بشریت ته د خپل قلم له لارې د خدمت مصدر ګرځیدلې دي.
همدارنګه د منطقې او د نړۍ په سطحه وتلې شاعران لرو چې هرچا په خپل دور کې خپل شعرونه ،مجموعې او دیوانونه په میراث پاته کړې او په ډیرو نورو برخو کې هم د دغسې لاسته راوړنو شاهدان یو.
زما مطلب پدې لیکنه کې په مشخصه توګه د هنر او هنرمند په اړه کوم چې د شاعرانو ښکلې شعرونه په خپل خوږو اوازونو کې کمپوزوي او بیا یې خپلو اوریدونکو ته څه په ژوندۍ ښه او څه هم د میدیا له لارو وړاندې کوي.
پخوا که یو ښکلي شعر په یو ښکلي اواز او کمپوز کې د خلکو زړونو ته لارپیدا کوله خو نن سبا د دغه ښکلي شعر ، اواز او کمپوز ترڅنګ د یو ښکلي کلیپ جوړولو ته هم اړین ضرورت او اړتیا شته چې هنرمندان خپل فعالیتونه د بصري میدیا ګانو بلخصوص تلویزیونو نو له لارې خپلو لیدونکو او اوریدونکو ته وړاندې کوي.

مور نن سبا د ډیرو هنرمندانو د سندرو او کلیپونو سره د تلویزون له لارې اشنا یو چې بعضې یې

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

ښکلې او هغه انځورونه په نظر کې نیولې کوم چې د همغه مشخص شعر د شاعر د شعر انځور پکې لیدل کیږي مګر بعضی هنرمندان دا کلیپونه د اسې جوړوي چې نــه د شعر سره تړاو لــري او نه د شاعر د شعر دانــځور کومــه ننښه پکې په سترګو کیږي.

د پورتني اصل په نظر کې نیولو سره په اوسنیو خاصو پرمخ تللو شرایطو کې بشــري ټولنه پــه مشخصه توګه انځورګره شاعرانو ته اړین ضرورورت احساسوي چې د دا سې رشتې شاعرې یو نوي فن او قدم دی د هنر او ادبیاتو په برخه کې چې پدې برخه کې د ادب د مینه والو توجه ورته اړوم.

انځورېزه شاعران هغه شاعران دې چې هم لیکوال دي هم شاعر، هغوی خپل د شعر انځور په اوله کې په نثر لیکي او د خپل دا انځور مختلف حالتونــه په نثر او په مناسب ځایــونو کــې د شعر په بڼه ترسیموي او په همدې ډول د خپل د ښکلې شعر انځور په نثرې او شعرې بڼه لیکي او ټولنې ته یې وړاندې کوي چې دا کار که له یــوې خوا یوه نوې لاسته راوړنه ده د ننې جوامعو په ادبیاتو کې د بلې خوا لازمه رهنما بې ده هغه خــوږ ژبو هنــر مندانو ته چې غواړي خپل د علاقې وړ شعرونه ته لازم او ښکلې کلیپونه جوړ او خلکو ته وړاندې کړي.

په همدې هیلې د دې طرحی په نظر کې نیولو سره دا دي خپله لمړنې لاسته راوړنه د شین خالې تر سر لیک هغه ناول دي چې پخوا د لنډو کیسو په ډول او اوس د همدې ناول په بڼه د ادب مینه والو ته وړاندې کو م او د بشرې نړۍ ټولو شاعرانو او لیکوالانو څخه هیله لرم چې د دې اصل په نظر کې نیولو سره په دې برخه کې خپل ادبي فعالیتونه لا ګړندي کړي.

قدرمنو لوستونکو !
لکه څنګه چې هره بشرې ټولنه ځانله ځانګړي خصوصیات ، کلتور ، رسم ،رواجونه او منل شوي اصول لــري په همدې ډول په بیلابیلو پرګنو کې دا اصول ، کلتور او منل شوي رسم او رواجونه سره توپیر لري.

په جهاني کچه د غرب ، شرق ،پرمختللو جوامعو او ورسته پاتې هیوادونو او همدا ډول د ممالکو په سطحه هم د مختلفو ولایاتو ،کلو او باندو رسم ،رواج او خصوصیتونه سره تفاوت لري.

په همدې اساس په دې لیکنې کې د شین خالې تر سر لیک چې یوژوندی تاریخي کیسه او زمونږ د

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

ګران هیواد د کلیوالي ژوند هغه ریښتني داستان دی چې د دې دوو پاکزړونو ځوانانانو شین خالی او زیړ ګل د ژوند د هیلو او ارمانو د پوره کیدو سرښیره د کلو اوبانډو رسمونه، رواجونه او د خلکو د مصرفیتونو انعکاس دی چې د شین خالي په لنډو کیسو کې څرګند شوی دی.

هیله ده چې دا لنډې ادبي ټوټې د لوستونکو د توجه وړ وګرځي او همدارنګه د دوستانو څخه هیله کیږي چې پدې برخه کې د دې لیکنې د لاغني کیدو په اړه خپل رغنده وړاندیزونه له موږ سره په لاندې پته شریک کړي.

s-afghani@hotmail.de
په ډیره مینه
سمیع الدین افغاني
۲۰۱۰ - ۵ - ۳ م کال
*** ******

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

د شین خالۍ کیسه



لمړۍ برخه

شین خالۍ

شین خالۍ چې همزولو او دکلي اوسیدونکو ورته د نازه شنوخطاب کوه، مور او پلار یې هغه په وړکتوب کې دتره ځوې زیړګل ته په نامه کړې وه ۰زیړ ګل لا کوچنی وه چې مور او پلار یې په حق رسیدلې وه نو د زیړګل تره دهغه تعلیم ، تربیه همدارنګه اعاشه اوروزنه کوله او هغه ته یې د اولاد په سترګو کتل چې په رښتیا سره زیړ ګل د مور او پلارنشتوالی کم احساسوه ۰

په شین خالۍ باندې هم زیړګل ډیرګران وه اوهغه ته به یې دخپل راتلونکو د خوشبختیو امید او د ژوند شریک په سترګو کتل ۰
زیړګل چې دشین خالۍ حسن، صورت اوکلیوالۍ څیره همیشه په سترګو کې وه ،دهغې په لیدو بــه د مینې ، مــحبت ، هــیلو او ارمانو نو تنده ماتوله او همیشه به یې دهغه تر خولې داسې زمزه تر غوږو کیده :

څــه ښکلا څــه نازونه یــې دی
تور اوربــل شنــه خالونه یې دی

شین خالۍ پــه رښتیا هم طبعي ښکلا لرلــه چې د کلي په خــورلنډو او د کلي د او سیدونکو لپاره د مینې ،محبت او احترام نمونه وه ،دهغې ښکلې څیره ،تورې بادامي سترګې او د ناز کتل پــه زیړګل خاص اثر اچوه چــې بیا کله کله به یې د هغې په لیدو د ځانه سره داسې زمزمه کوله :

چې کتــل کړي په ناز لکه حوره

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

ښکلی مـــخ يې ځلـيږی له نوره
شوخ نـــظر ســترګکونه يې دی
تور اوربـــل شنه خالونه يې دی

او کله کله به يې دا سې ويل :

چې لـــه ورايه په ناز ناز کتل کا
په زړګي مې د غشو ويشتل کا
جـــادوګـــر منترونه يې دي
تور اوربـــل شنـــه خالونه يې دي

د شين خالې په تندي ،زنې او اننګو کـې ښکلي طبعي شنه خالونه وه ،که څه هم هغې ددې شنو خالو ارزښت دومره نه احساسوه خو دهغې جګې ونې او د شنو خالو ښکلا ځانله رنګ او خوند ورکړی وه چې زيړ ګل به هغه داسې اظهاروه :

جګه ونـــه شمشاد يې قامت دی
ده مغروره شاهين يې صفت دی
نـــاز ادا فـــريـــبونـــه يې دی
تور اوربـــل شنـــه خالونه يې دی

او په اخر کې به يې خپل د مينې سندره داسې ختمولـه :

افغاني حسن جوړ شنو خالودی
چې يې وړی زړګی په پلمو دی
پراتـــه زړه کې غمونه يې دي
تور اوربـــل شنه خالونه يې دي

*** ******

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library



شین خالی

شین خالی ته دشنو نوم په اوله کې دومره په زړه پورې نه ؤ ،خوهغه پدې پوهیده چې کلیوال هغه د نازه پدې نوم یادوي نو چې کله کله به زیړ ګل ورته دشنو خطاب کاوه هغې به د زیړ ګل په اوازکې د مینې او مـحبت احساس کاوه ۰
شین خـالی دموراوپـــلاریوا ئیـنی لـور وه چې هـغه یې ډیره نازوله اوطبعې پسې به یې ګرزیدل ۰
هغې دکلیوالي سینګارسره ځانګړی علاقه وه همداچې بنجاره به دکلي په کوڅوکې پناروسرشونو مورته به یې په خواږه اوازکې ویل۰
موږ بنجاري ماما راغلی دی او د مورڅخه به یې دبنجاره نه د اخیستلو پیسی او یا څه جوار غنم ترلاسه او دکلي د نورو همزولو سره یوځای د بنجاري مـــامـــا نه د سینګار شیان رانیول۰
شین خالی د بنجاري مـــامـــا نه چارګل ، پازیب ، سیـــخکونه، دنداسه، عطرونه او د کلیوالي هرډول د سینګار شیان خوښول او مورته به یې داسې زمزمه کوله۰

موږ بنجاره مـــامـــا راغلی دی
نورشیان یې ډیردي داپایزیب یې څومره ښکلی دی
موږ بنجاره مـــامـــا راغلی دی

په رښتیا هم چې کله به شین خالی په کلي کـې تبـریده نوخوشبویي به د کلي په کوڅو کې تړې په ګډاوه ، رنګ رنګ سیخکونه یې په اوربل قطار،سترګې په کجلو تورې او د پایزبو شرنګهار یې د لرې اوریدل کیده ۰ چې هغې به د بنجاري په راتـــګ دمورنه د پیـــسود ترلاسه کولو لپاره داسې بهانې کولې۰

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

موري پيسې راکه چې پايزيب مې ډير خوښيږي
رنګ رنګ سيـــخکونه په اوربـــل مې هوسيږي
عطر شام پاريـــس مې په دمـــاغ ډير ښه لګيږي
نقدی پيسې نه وی ماما پور پـــه ځان منلی دی
موري بنجاره مـــامـــا راغلی دی

شين خالی په کليوالي سينګارکې د کـــلي د نـورو خـــورلنـډو څخه مخکې وه ، د هغې به همېش لاسونه په نګريزو سره وه،ښکلې نتکی به يې په سپينه ټـــنده بـليده او د سرو زرو چارګل به يې په پوزې ګرزاوه،د هغې به همېشه په دنداسې شونډې سرې او غاښونه سپين وه او په ډير شوق کله کله مورته داسې ويل ۰

اخـــلم دنداسه چـــې دنداسه مې ډير خوښيږي
سری شونډی چې ګرځم نو اشنامې خوشحاليږي
تورې تورې سترګـــې پـــه کجلو ښه ښکاريږی
سرو زرو چـــارګل ماما پـه برجب کې ساتلی دی
موري بنجاره مـــامـــا راغلی دی

شين خـــالی به دمـــور او هـــمزولـــو سره د زړه راز او هيلې داسې شريکولې ۰

ځان چې مې سينګارکړه بيانوځمه دګدر په لور
موري دهـــمزولـــو سره نـــن دمـــازديګرپه لور
ډيربـــه شم خوشحاله چې ديارشم دنظر په لور
اچوم ټکريـــی چې افغاني کلتورمو ښکلی دی
موري بنجاره مـــامـــا راغلي دی

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

بنجاره ماما

نورشیان یې ډیردي دا پایزیب یې څومره ښکلی دی
موږ یې بنجاره مـــامـــا راغلی دی

مورنه پیسې غواړي چې پایزیب یې ډیرخوښیږي
رنګ رنګ سیـــخکونه پـــه اوربـــل یې هوسیږي
عطرشام پاریـــس یې په دمـــاغ ډیر ښه لګیږي
نقدی پیسې نه وی ماما پـــور پـــه ځان منلی دی
موږ یې بنجاره مـــامـــا راغلی دی

اخـــلي دنداسه چـــې دنداسه یې ډیر خوښیږي
سری شونډی چې ګرځي نو اشنا یی خوشحالیږي
تورې تورې سترګـــې پـــه کجلو ښه ښکاریږي
سرو زرو چـــارګل ماما په برجیب کې ساتلی دی
موږ یې بنجاره مـــامـــا راغلی دی

ځان چې یې سینګارکړه بیانوځي نوردګدرپه لور
موږ د هـــمزولـــو سره نـــن دمـــازدیګر په لور
ډیربه شي خـــوشحاله چې دیـــارشي دنظر په لور
اچوی ټکریې چـــې افغاني کلتور یې ښکلی دی
موږ یې بنجاره مـــامـــا راغلی دی

*** ******

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library



دریمه برخه

شین خالی

د شین خالی پلار د کورتر څنګ یوه ښکلې بڼ جوړ کړی وو چې د کلي دلوبې بیالې څخه بې یوه وړه بیاله ورته ویستلې وه کوم چې دهغې نه به بې د بڼ د حاصلاتو د خړوبولو لپاره استفاده کوله او همدارنګه د باغچې په مینځ کې بې دابو پکی درولې وه کوم چې د دې بیالې په اوبو څرخیده چې دهغه د پاسه ښۍ داغزو کوټنی جوړه وه نو چې کله به یې داغزو په کوټنی اوبه وشیندلې، پکې به مرتوبه اوتازه هوا هرې خوا شړله چې په اوړي او ګرمۍ کې د ناستی او د ګرمیو څخه د خلاصون مناسب ځای ګڼل کیده۰

په بڼ کې رنګارنګ ګلان لکه سره او سپین ګلاب ، نرګس ، شبو ،رامبیل ، چمبیلي، کشمالې او نورو ښایسته ګلانو سربیره ترکاریلکه تور بادنجان ، بیندۍ ، رومي بادنچان ، پالک ، ملۍ ،نوش پیاز ، ترائي او ډیر نورمختلف حبوبات او د کور ضروریات کرل چې زیږګل به د هغو څخه څارنه کوله۰

زیږګل د درس او تعلیم تر څنګ د تره سره د کرنې او مالدارۍ په برخه کې پوره لاس ورکاوه ، هغه چې کله به د ښوونځی څخه فارغ شونو ځمکو د خړوبولو او د څارویو په روئنې به بوخت ؤ ۰

زیږګل د زمینداری په برخه کې د تره سره اوږه په اوږه کار کوه ، د مځکې په اړولو لکه ماله ، قلبه او ابولګولو کې بې د بزګر سره مرسته کوله۰

شین خالی چې په خپل سینګار مینه وه یو ورځ زیږګل ته چې د باغچې په سمبالو بوخت وه داسې وویل:
زیږګله دیره مده وشوه چې د بنجاري پته نه لږږي ۰

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

زیړ ګل چې په باغچې کې په خپل کار بوخت ؤ شین خالی ته ېې وکتل او بیرته په خپل کار بوخت او په جواب کې ورته وویل:
بیا د ې د کوم سینګار شوق په سر کې راغلی دی ۰
شین خالی په جواب کې ورته وویل:
ته نه ګورې چې لیچې مې تشی دی او زه د زرګر د دوکان نه د نو جامو لپاره پاولي غواړم ۰

زیړ ګل سر ورته وښوروه او ورته یې وویل :
سمه ده سبا له خیره د مور نه دی اجازه اخلم د زرګر دوکان له دی بیایم او بیرته په خپل کار بوخت شو ۰
زیړ ګل ته د شین خالې د ا هیله ډیره خوندوره وبریښیده او له ځانه سره ېې داسې زمزمه کوله:

مانه د زرګر د دوکان
خیالي پاولي غواړي

سپینی لیخې تشې ګرځي
لیلا ځمانه شنه بنګړي غواړي

سبا کله چې زیړ ګل د ښوونځی څخه راستون شو نو د شین خالی پلار د روغبړ نه وروسته ورته داسی ویل:
زیړ ګله ځویه !
زه د یو ضرور کار لپاره ښار ته روان یم او نن ځموږ د اوبو وار دی هیله ده چې د بزګر سره د ابو په لګولو کې مرسته وکړې او پام دې وې چې څاروی هم درنه وګي یا تږي پاته نشي ۰

زیړ ګل چې د شین خالی سره د زرګر د دوکان وعده کړې وه او دبلې خوا د تره د خبری نه تیریدل هم ورته ګرانه وه په جواب کې ورته ویل:
سمه ده تاسو بیغمه اوسې زه کارونه سمبالوم ۰

شین خالی چې د پلار او زیړ ګل خبری واوریدې خوابدی بیرته د کلا انګړ ته ننوتله زیړ ګل د شین خالې په ټنډه پوه شو ورسته ېې ورته وویل:

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

شین خالی ته مروریږه مه، سبا به له خیره وخته تا د زرګر دوکان له بیایم۰

کله چې مابنام زیړ ګل د کارو څخه فارغ شو نو د کاکا ناوې نه چې زیړ ګل به د مور مینه پری ماتوله د سباورځې د شین خالی د زرګر د دوکان د تـګ اجازه واخیسته او سبا د واړه د زرګر دوکان په لورې روان شول چې په لاره کې زیړ ګل د ځانه سره د اسې زمزمه کوله:

اشـــنا ځما نه مرورده
د لاس بنګړی می خوږ اشنا په بی صبری غواړی
سپینی لیـــځې تشـــې ګرځې
لیلا ځمانه شنه بنګړي غواړي

نو کله چې د زرګر دوکان ته ورسید ل نو زیړ ګل زرګرته د اسې اظهار وکړ:

زرګره نقد ی روپی واخله
مانه اشنا د لاس بنګړی په خپل مرزی غواړی
سپینی لیـــځې تشـــې ګرځې
لیلا ځمانه شنه بنګړي غواړي

ورسته بیا زیړ ګل په ډیره مینه د اسې زمزمه کوله:

بنګړی دیارپه لاس کی خوند کړی
په سپین مړوند د بنګړو شرنګ بنکلی ځوانی غواړی

سپینی لیـــځې تشـــې ګرځې
لیلا ځمانه شنه بنګړي غواړي
*** ******

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library



ځلورمه برخه

شین خالی

زیړګل چې د شین خالی په کلیوالې حسن او سینګار زړه بایللی وه ، تل به یې د هغې په مینه کې کله کله ښکلې شعرونه او په زړه پورې کمپوزونه جوړول ، خوږې سندرې به یې زمزمه کولې او ښه شاعرانه طبعه یې درلوده ، هغه د ټنګ ټکور سره ځانګړې مینه درلوده او د موسقي د آلاتو په غږولو کې یې خاص مهارت درلود ، ډیر خوږ رباب او ستار یې غږاوه او په زړه پورې ښکتی ، لوبې ، چار بیتې او غزلونه یې کمپوز کړې وې نو تل به په خوښیو ، اخترونو ، نوی کال او دکلي په ښادیو کې ځوانان په حجره کې راټولیدل او د ټنګ ټکور او خوښي مراسم به اجرا کیده ، زیړګل به ستار غږاوه او د کلي د نابې ځوی میراجاني به د منګي او کاسې څخه داسې خوږ اواز پورته کاوه چې شاو خوا د کلي ځوانان او د ساز او آواز مینه والو به ښه خوند تري اخیست.

د زیړګل سندرې د هغه دزړه سندرې وې همدا وجه وه چې د هغه د سندرو مینه وال نه تنها د کلي اوسیدونکي بلکې په سیمې کې د زیړګل د نامه سره خلکو پیژند ګلوی لرله.

زیړګل به کله کله لکه ګلا جان استاد امسا په لاس کړه دستاراو منګي سره به یې داسې ښیاسته لوبې ، بګتی او دګلا جان استاد پیښې کولې چې په رښتیا به د ټنګ ټکور نه ورسته د کلیوالو روحیه بله او د خوښې احساس به د کلي په اوسیدونکو کې تر سترګو کیده.

شین خالی هم د زیړګل په مینه مسته او د زیړګل د پام او نظرد جلبولو لپاره خپل کلیوالي سینګار ته خاصه پاملرنه لرله ، هغې دلښته په شان جګه ونه او د کوترې په شان د پنجو په څوکه تګ او رفتار درلود چې زیړګل به کله کله داسې ویل:

د کلی مینځ کې د پنجو په څوکو تله شین خالی
لکه کوتره مې د ورایه ولیده شین خالی

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

راغلی زیړګل چې د شین خالې دلارې تګ او د هغې کلیوالې سینګار او نزاکتونو تراغیزې لاندې وه، خپل د سترګو لیدلی حال د اسې اظهار وه:

د سیخکوکتار یـې جوړ وه د اوربله ځینې
په یو نـظریې زړګی ویوړه د ګـوګله ځینې
په سرومنګلو یې لاس تیرکړه د کاکله ځینې
په هر قدم کې لکه لښته ماتیده شین خالې
لکه کـوتره مې د ورایه ولـیده شین خالې

شین خالې به تل د خپلو همزولو سره ګډر ته تله او کورته به یې د چنباک پاکې اوبه راوړلې نو چې کله به د اوبو راوړلو څخه فارغه شوه ،بیا به د خپلو خور لنډو سره په چکر شوه چې زیړګل به د اسې زمزمه کوله:

خپلو هـمزولو سره وتـې په چکروه نه
ښکلی موسم د پسرلي او مـازیګر وه نه
د پلو لاندې پـټ کاتـه یې په هنر وه نه
د نجنو مینځ کې لکه شمعه بلیده شین خالې
لکه کوتـره مې د ورایه ولـیده شین خالې

او په اخره کې زیړګل د خپلې مینې سندره دا سې ختموله:

یو یې په غاړه سورکمیس ګل بخمل وه نه
پـه جګـه پوزه د چارګل یې جلوبل وه نه
دا خوشبویي چې په ګډا تري د سنبل وه نه
په افغاني لباس کې ښکلې ښکاریده شین خالې
لکه کوتـره مې د ورایـه ولـیده شـین خالې

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

کلیوالہ جلیِ

د کلی مینځ کې د پنجو په څوکو تلله جلیِ
لکــه کــوتــره مې د ورایه ولیدله جلیِ

د سیخکو کتار یــې جوړ وه د اوربلـه ځینې
په یو نــظریی زړګی ویوړه د ګـوګله ځینې
په سرومنګلو یې لاس تیرکړه د کاکله ځینې
په هر قدم کې لکه لښته ماتیدله جلیِ
لکــه کــوتــره مې د ورایه ولیدله جلیِ

خپلو هــمزولو سره وتــې په چکروه نه
ښکلی موسم د پسرلي او مــازیګر وه نه
د پلو لاندې پــټ کاتــه یې په هنر وه نه
د نجنو مینځ کې لکه شمعه بلیدله جلیِ
لکــه کــوتــره مې د ورایه ولیدله جلیِ

یو یې په غاړه سور کمیس ګل بخمل وه نه
پــه جګــه پوزه د چارګل یې جلوبل وه نه
دا خوشبویي چې په ګډا تړې د سنبل وه نه
په افغاني لباس کې ښکلې ښکاریدله جلیِ
لکــه کــوتــره مې د ورایه ولیدله جلیِ
*** ******

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library



پنځمه برخه

شین خالې

زیړګل د شین خالې په پاکه مینه ډیر خوشـــاله او هغې ته بـــې د خپل راتلونکې ژوند د ترخو او خوږوشیبو د شریکې په سترګو کتل او پدې فکر کې وه چې څنګه د واده سرشته ونیسي او خپله معامله راټوله او خپله کوژدنه په خپل کاله کړي۰
که څه هم څو واړي زیړګل دا خبره د شین خالې د مور سره شریکه کړې وه ،خو د هغې څخه پې داسې جواب ترلاسه کړی وه۰

زړګله زویه !
مور او پلار دې خدای وبښه ، ته پوهیږې چې شین خالې هغوی تاته په وړکتوب کې په نامه کړې وه ،اوس شین خالې ستا امانت دی زه او اکادې په دې برخه کې کومه ستونزه نلروخو خبره داده چې۰
زیړګل دشین خالې مور ته مخ راواړوه اورته پې وویل:
نو څه خبره ده کاکا ناوې؟
دشین خالې مورخپلوخبرو ته داسې ادامه ورکړه :
ګوره زیړګله ځویه، ته پدې پوهیږې چې ته دې په اکا اوپه مورډیر ګران پې ، مورنارینه اولاد نلرو او مورته د اولاد حیثیت لرې ، مورډا هیله لرو چې ته د پوهې او تعلیم خاوند شې اوکله چې درسو نه فارغ شوې که د خدای رضا وه بیا به د واده سرشته درته ونـیسو ، ته پدی برخه کې هیڅ تشویش مکوه او خپلو درسو ته دې پام ونیسه چې په تعلیم کې د همزولو نه بیرته پاته نشې۰

زیړګل ته هم د اکا فیصله ښه بریښیدلې وه او همدا وجه وه چې په ډیره ښه درجه پې د دولسم

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

ټولګي د فراغت شهادت نامه تر لاسه کړه ۰
کله چې زیړګل د دولسم ټولګي څخه فارغ شو ، تـــره یې د زیړ ګل فراغـــت هغه ته مبارکې وویله او دلوی خدای شکر یې ادا کړ چې د هغه هیله کوم چې زیړ ګل د تعلم او پوهې خاوند شې تر یو حده تر سره شوه ۰

د زیړ ګل پام داوس لپاره د درسنو څخه فارغ او د کروندګرۍ په کارونو مصروف وه ،خو سره لدې کله کله د کانکو دازمویني لپاره به یې په خپل پخوانۍ درسونو مرور کاوه او د فراغت په وخت کې به د ریاضي ، کیمیا معادلې له ځانه سره حلولې او د مکتب د دورې نور مضامین یې هم لوستل۰

څه مده ورسته زیړ ګل خپل د ښوونځي د دورې همصنفیانو ته په خپله حجره کې د میلمستیا بلنه ورکړه ، د ښوونځۍ دوستانو هریو د تعلیم د دورې خـــپلې خاطرې خوړو او ترخو شیبو کیسې کولې او د لیسې د دورې د فراغت څخه یې خوښې څرګندوله ۰
د دوۍ کیسې او د زړه خواله تر ناوخته دوام وکړ ، په اخر کې د زیړګل یو نژدې دوست د هغه سره داسې پوښتنه شریکه کړه:

زیړګله !
څه تصمیم لرې په همدې تحصیل قناعت کوې یا که غواړې چې تحصیلاتو ته دې ادامه ورکړې ؟
زیړګل په جواب کې ورته وویل:

ډیرې موهمې مسلې ته مو اشاره ورکړه ، ماپدې برخه کې کوم قاطع تصمیم ندې نیولې ځکه د لوړو زدکړو امکانات یوازې په لویو ښارو کې امکان شته ، خو په هـــر صورت کـــې زه تصمیم لرم چې د کانکور ازموینه ورکړم ، وګورم چې روزګار موږسره څه کوې دبلې خوا اکا مې هم دا نظر لرې چې زه باید خپل تحصیلاتو ته ادامه ورکړم ۰
صرف یو مشکل شته که چیرې زه د تحصیل لپاره مرکز ته لاړ شم دلته به د کورنۍ د سرپرستۍ مسله څنګه شې ، اکاته هم هغه د ځوانې قوت ندی پاته د بلۍ خو د شین خالې خـــخه لرې کیدل هم ګران دې ،په هر صورت یو ځل د کانکور ازموینه ترسره شې وګورو چې قسمت او نصیب مـــو کوم لور ته بیا پې ا و څه راسره کوې۰

شین خالۍ هم د زیړګل د مسا پرې ترفداره نه وه او د زیړګل د جدا پې توان یې په خپل وجود کې نه

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

لیده ،هغې به همیش د مور سره دا ویل:
زیړ ګل زمونږ د کار سړی دې خدای دې ژوندی لرې تل د پلار سره د دخمکو او مالدارې په کارونو کې ښه مرسته کوې ، زمونږ جوړ او ناجوړ ټول په هغه دي خداې دې د هغه سیوری لــه مونږ د سره نه کموې.

زیړ ګل چې د شین خالې په مینه او انتظار کې شپې او ورځې تیرولې، د هغه په یاد به ې کله کله د زړه د سوزه داسې د مینې او محبت زمزمه کوله:

راشــه چې سپرلی دې شــم ګلــزار دې شم
راشــه چې د بدې ورځې یار دې شــم
ستــــا د پــــا کې مینې محبت کې یار
ژوند شمـــــه ورمه شمـــه بهار دې شم

زیړ ګل د خپلې پاکې مینې په بریالیتوب متمئن وه او داسې به ې ویل:

نه شتـــه بلـــه لار ، نه بل تدبیر چیرې
راشـــه چې مرهم دې شـــم قرار دې شم
ته ما ته په مینـــه مینـــه وګوره
زه دې سره لمبـــــه شمه انګار دې شم

هغه د خپلې پاکې مینې او اخلاص اظهار داسې کاوه:

مـــا سره جـــذبه د ه محبت زړه کې
راشـــه چې کاکل دې شم سینګار دې شم
مینه د اخلاصـــه سره خـــوند کوې
راشـــه چې د مینې وفـــا دار دې شم

زیړ ګل چې د شین خالې جګه ونه ، هسکه غاړه اود پایزیب شرنګهار زړه وړی وه نو په اخر کې به ې د خپل د مینې سندره داسې ختموله:

هسکـــه غاړه زیب لرې امیـــل سره
راشـــه چې د سپینې غـــاړې هار دې شم

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

شرنګ دې د پایزیب په زړګي ښـــه لګي
راشه چې پایزیب دې شم شرنګار دې شم

راشه چې سپرلی دې شم

راشـــه چې سپرلی دې شـم ګلـزار دې شم
راشـــه چې د بدې ورځې یار دې شـــم

ستـــــا د پـــا کې مینې محبت کې یار
ژوند شمـــــه ورېمه شمـــه بهار دې شم

نه شتـــــه بلـــه لار ، نه بل تدبیر چیرې
راشـــه چې مرهم دې شـــم قرار دې شم

ته ما ته په مینـــــه مینـــــه وګوره
زه دې سره لمبـــــــه شمه انګار دې شم

مـــــا سره جـــذبه د ه محبت زړه کې
راشـــه چې کاکل دې شم سینګار دې شم

مینه د اخلاصـــــه سره خـــــوند کوي
راشـــــه چې د مینې وفـــا دار دې شم

هسکـــــه غاړه زیب لري امیـــــل سره
راشـــــه چې د سپینې غـــاړې هار دې شم

شرنګ دې د پایزیب په زړګي ښـــه لګي
راشه چې پایزیب دې شم شرنګار دې شم

*** ******

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library



شپږمه برخه

شین خالی

زیږګل خپل د راتلونکي ژوند په فکر کې ډوب او کله کله به یې له ځانه سره ویل چې انسانان د ژوند په مختلفو پړاوونو کې د مختلفو مسایلو ، کړکیچونو او پرابلمونه سره مخامخ کیږي خو په وه او کامیابه خلک هغوی دي چې د دغو مسائلو ، مشکلاتو او موانعو په مقابل کې د پوهې او معقولیت نه کار واخلي ، که چیرې انسان د ژوند پدې پړاونو کې معقول دریځ او عملي ګامونه اوچت نه کړي بیا ورسته هغه فرصت نه ورته میسریږي.

زیږګل پدې سوچونو کې دي نتجې ته رسیدلې وه په هر ډول چې وي خپل تحصیلاتو ته باید ادامه ورکړي، هغه د راتلونکي ژوند د خوشبختیو اساسي لار په تعلیم او زده کړه کې لیدله ،او دا ورته جوته شوې وه چې دلوړو لاسته راوړنو لپاره باید لوړو زدکړو ته ځان چمتو کړي.

خه مده ورسته د هیواد په مرکز او ولایاتو کې د دولسم ټولګیو د فاریغینو د کانکور د ازموینې نیټه اعلان شوه ، زیږګل هغه همصنفیانو ته کوم چې د ازموینې د نیټې خبر یې نه وه ترلاسه کړی خبر ورکړاو د خپلونژدی دوستانو کوم چې د ازموینې لپاره بې امادګي ښودله ،دا هیله وکړه چې یوځاې به د ازموینې لپاره درسی پروګرام په مخ بیایي په هدي اساس زیږګل خپلو ملګرو ته داسې وړاندیز وکړه چې د ازموینې تر نیټې پورې به هر ورز د سهار د نه بجو نه بیا د غرمې تر دولس بجو پورې د دوی حجرې ته راشي او د ازموینې په احتمالي پښتنو به سره په شریکه کار وکړي.

د زیږګل د ا په موقعي وړاندیز د ټولو د تایید او ملاتړ وړ وګرځید او هره ورځ به په هجره کې یو ځاې د فزیک ، کیمیا ،ریاضې معادلې حلیدلې او همدارنګه د بیالوژي ، تاریخ ، جغرافیه

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

، دیني اونورو مضامینو سوالونه بیرون نویس او دهغو لپاره یې مناسب جوابونه برابرول چې په رښتیا سره هم د دوی دا هلو ځلو ښې پایلې اولاسته راوړې د دوی په برخه کړې۰

زیړګل همدا سې چې د طب مسلک خوښیده په ډیرعالي نمرو همدې پوهنځي ته بریالي شو او نور ملګرو یې هم د کارنکور آزموینه په بری پای ته ورسوله او د خپلو خوښې د پوهنځی ګانو په لستونو کې خپل نومونه ولیدل ،هغو یو بل ته یې د خپلو د زحماتو او لاسته راوړنو څخه مبارکی وویله او دخوشحالی اظهار یې کاوه۰

زیړګل او د هغه ملګري په ډیره خوشحالي بیرته خپلو کلو او بانډو ته را ستانه شول او د خپلو بریاو زیری یې خپل دوستانو ، کلیوالو او د کورنیو غړوته ورکړ ،هغوی هم ددوی لاسته راوړنې ولمانځلې او هغو ته ئې مبارکي وویله۰

زیړګل اوس د یو نوې حالت سره مواجه وه ،هغه پدې مسألې فکر کاوه او پدې پوهیده چې د منظم درسونو د تعقیب لپاره هغه محصلین چې د ولایاتو نه کومو پوهنځیو ته د بریالیتوب چانس ترلاسه کړې وې باید د مربوطه پوهنځیو د پوهنتونو نو په لیلیه کې میشت شې ، هغه پدې فکر کې وه چې ددې په تلوبه څوک د کورنې جنجالونه حلوې او د هغوی جوړیا ناجوړ ته ځان رسوي،په همدې چرتونو کې ډوب وه چې تره یې ورته غږ کړ۰

زیړګله ځویه !

ته راځه چې څه ضروري خبرې درسره لرم۰

زیړګل په بیړه ځان تره ته ورسوه او بعد له سلامه یې ورته وویل اکا څه مو ویل ؟

هغه په داسې حال کې چې شین خالی او د هغه مور هم هلته ناسته وه زیړګل ته د سلام د ځوابه وروسته داسې وویل:

زیړګله !

هغه لږ څه غلی شو بیا یې په داسی حال کې چې خپلې میرمن او شین خالی ته کتل زیړګل ته داسی وویل:

ته پدې پوهیږې چې په ژوند کې خوشبختي ، هوسا او ارام ژوند په خپله سړي ته نه راځي ، د دې لپاره چې سړي خپل هدف ته ورسیږي لازمه ده مطلب ته درسیدلو لپارکوشش وکړي او زحمت وباسي۰ زه ستاپه تشویش او مشکلاتو باندې پوه یم ، ته زمونږ له خوا هیڅ تشویش مکوه ،ته اوس کوشش وکړه چې هوښیار طبیب درنه جوړشي ، زمونږ په کلواو بانډو کې ډاکترته ډیرضرورت

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

دی او ډاکتران پـــه ولسونو کې د عـــزت او اعتبـــار خاوندان دي ، پـــه مورې هم عـمر تير شوي اودډاکتر ضرورت احساسوو ۰
دوهمه خبره داده چې د زمينداری کارونه بزګر په مخ بيا بې بيا هـــم ستاسو د تحصيل ځای دومره لرې ندې ،ته کولی شې د هفته په رخصتيو کې کورته راشې ،او که بيا هم کوم مشکل وه بيا حتمي تا خبروو ، زه فکر کوم زه اوس داسې مشکل نه وينم چې هغه دې ستا د تحصيل خنډ وګرځي ،زمورې مشوره تاته همدا ده چې ته دې بې له کومې اندېښنې خپلو زدکړو ته ادامه ورکړې ۰

د شين خالی مور هم زيړګل ته ډاډ ورکړ او وته يې وويل:
زيړګله ځويه !
اکا دې رښتيا وايې ته هيڅ تشويش مکوه ته بـــايد زحمـــت وباسې چې تانه يو هوښيار طبيب جوړ شې ۰
زيړګل چې خپل تره او د هغه هرې فيصلې ته په درنو سترګو کـــتـــل ،تره ته يې په جواب کې وويل:

اکا څه چې ستاسو مشوره وې هغه ماته منظوره ده ۰

زيړګل د ځايه پاڅيد او شړۍ ئې تر ځان چارپيره کړه او د څارويو د راوستلو په تکل کې شو ، خو په لار کې ئې د شين خالی نه د جدا کيدو فکرټکنی کړی وه ، د هغې څخه د جدائي تحمل ورته ګران وه خو هغه ته بله لار معقوله نه بريښيده ۰

شين خالی ته هم د زيړګل بيلتون د تحمل وړ نه وه ،خو د پـــلار د فيصلې خـــلاف ېې هـم هغه نه شو ستنولی ،مجبوره وه د پلار فيصله ومني او د زيړګل د بيـــلتون د زعم او حوصلې توا ن پيدا کړي۰

څو ورځې ورسته د پوهنتون د درسونو د پيل موقه راورسيده ، زيړګل او د هغه ملګري يوه ورځ د مخه بازارته لاړل ۰زيړګل د ځان لپاره نوې جامې ،جمپرونه او نوې بوټان راونيول تر څو د پوهنتون په ساحه کې بې د نورو محصلينو سره سيالي برابره وي،هـــمدارنګه ملګرويې هم د خپل ضرورت وړ شيان راونيول او د وعدې سره سم سبـــا د وخته د زيړګـــل دوی کره راغلل ، د زيړګل دوی په حجره کې نور دوستان او د کلې خلک هم د دوی د مخه ښې په مقصد راټول شوې وه۰

د زيړګل د ملګرو د رارسيدو سره سم د کلې اوسيدونکو ، سپين ګيرو او دوستانو بې هغوی ته د دوعا لاسونه اوچت او دلوی خدای له درباره څخه هغو ته د صحت او کاميابی هيله وکړه ۰

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

د شین خالی مور هم هغوی ته ددوعا لاسونه پورته کړل او د خدای پامانې وروسته بې ړې
اوبه دتوتکې په دود د هغوی پسې وشیندلې ۰
زیړ ګل او د هغه ملګرو خپل بیکونه ترغاړه او دولایت د مرکز په لوري روان او هلته په بس کې
سپاره او ورسته له دوه ساعته منزله د پوهنتون مرکزې لیلیې ته ورسیدل۰
د پوهنتون د لیلیې په انګړ کې د محصلینو دهستوګنې دخونو لست زړول شوې وه ، هریو دخپل
دهستوګنې خونه ،د لباس الماري او د خوب ځای پیدا کړل او د نویو ملګرو سره بې معرفت حاصل
کړ۰
زیړ ګل چې زما نژدې ملګری او د زړه د رازونو یار وه ،ورسته له څو اونیو د هغه لیدلولپاره لاړم ،
هغه چې به همیشه د خپل دشین خالی د پاکې مینې کیسې زما سره شریکولې زما په لیدو ډیر
خوشاله او د نوې ژوند د کیسو ورسته د شین خالی د بیلتون په هکله داسې ویل:

د فکر ټال کې زنګیده لیونی
بیا په زړګي مې وریده لیونی

زیړ ګل چې په رڼا او خوبونو کې د شین خالی خیره ورته په فکر او خیا لونو کې زنګیدله دخپل
خوب کیسه داسې کوله:

ما مې د زړه ورته داغونه شمیرل
دا بې پروا وه خندیده لیونی

هسې بې درده بې احساسه نه وه
ځما په مینه پوهیده لیونی

ما چه اظهار ورته د مینې کوه
لکه د ګل به غوړیده لیونی

او دخپل د مینې سندره بې داسې ختموله:

افغاني څومره ښې شیبې تیرې شوې
چې په مالت کې او سیده لیونی

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

لیونی

د فکر ټـــال کـــې زنګیده لیونی
بیا پـــه زړګـــي مې وریده لیونی

ما مـــې د زړه ورته داغونه شمیرل
دا بـــې پروا وه خنـــدیده لیونی

هسې بـــې درده بې احساسه نه وه
ځـــما په میـــنه پوهیده لیـــونی

ما چه اظـــهار ورته د مـــینې کوه
لکه د ګـــل به غـــوړیده لیـــونی

افغاني څومره ښې شیبې تیرې شوې
چې په مـــالت کې او سیـــده لیونی
*** ******

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library



شين خالی

زيړګل ورو ورو د نباري ژوند ، د پوهنتون د ماحول ، نويو دوستانو ،ملګرو او استادانو سره اشنا کيده خو په هغه کې د کليوالي ژوند تاثيرات او کرکتر د ورايه په سترګو کيده ۰
هغه هم د کلو او باندو ژوند او د نباري ژوند تــو پيرونه احساسول ،هلته په کلي کې د زميندارۍ او مالدارۍ تر څنګ پرګنيزې مرا ودۍ او ورځنۍ چارې،دلته د علم او پوهې ماحول دا هغه تفاوتونه وه چې زيړ ګل ورسره نوی بلديده ، هغه به کله کله دا متل کاوه چې وايې:
چيرته چې اوسې ، په خوی به د هغو شې۰

خو د زيړګل هغه ساده اوبې کبره ژوند سبب شو چې په ډيرلږ وخت کې ځانله ډير دوستان او صادقه ملګري او اخلاصمندان پيدا کړي ۰
زيړګل د تحصيل په شرايطو کې دوخت په ارزښت او ماهيت نه پوهيده ،هغه دا پتيئلې وه چې بايد وخت تري بې خايه تير نشي ، هغه ته دا جوته شــوې وه چې د طب د مسلک لمړۍ يا مقدماتي کال د زحمت اود زياره سره دي، ځکه چې پدې لمړۍ او دوهم سمسترونو کې د طبي نوو ترمنالوژيو سره اشنا کيدل او همدارنګه د انګليسي ژبــه او لاتيني اصطلاحات په طب کې هغه اساسي او ضروري مطالب دي چې دهغو يادول په بنسټيزه توګه دهر محصل د پوهې او د هغه دراتلونکي ژوند اساس تشکلوي ، په همدې وجه هغه به تل د فراغت وخت د پوهنتون پــه کتابتون کې تيروه او هلته به يې مسلکي کتابونه متالــعه کول او دطب د علــماو د نظـرياتو سره هم اشنــا کيده او هــمدارنګه په کتابتون کې به د ورځپانو جرايدو او مجلو څــخه په استفادې د وطــن او ددنيا د حالاتو څخه ځان خبروه۰

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

هغه د پوهنتون په ساحه کې د نورو اندیښنو ، نظریاتو اوداحزابو ترفدارانو سره اشنا کیده ، د مختلفو نظریاتو پیروانو به وورسره سیاسي بحثونه کول.

هر تنظیم به د خپل حقانیت او وطن کې دې ناخوالو عوامل تشریح کول او و یل به یې چې ددې مشکلاتو او مطرحو مسایلو د حل لاره زمونږ تګلاره ده.
زیړګل به د هر چا نظر په غور اوریده خو هغه په وطن کې د مختلفو سیاسي جریاناتو سره موافق نه وه ،ځکه هغه دافغاستان دخلکو دیو متحد او مشترک حرکت طرفدار وه ،هغه به ویل چې د وطن خلک بلخصوص ځوانان په مختلفو ډلو او حلقو کې ببلیدل داد وطن په ګټه نه ده ، هر څومره چې د افغانسان خلک په خپلو کې سره یو موتې شي هغه زمونږ دخلکو اودملک د ترقۍ په ګټه ده ،تنها یووالی دي چې کولاې شي مونږ دبریالیتوبونو او ترقۍ لورې معراج ته ورسوي ،نه دا دیوواحددین او ائین خلک په مختلفو ډلو او تنظیمونو تقسیم کیدل.

خو هغه د یو تعداد متعصبه کسانو چې د ژبې او قومونو اختلاف ته لمنه وهله ډیر بدبیني درلوده ، او د هغو سره یې په پټه او بښکاره کینه او نفرت درلود هغه به ویل افغانستان د ټولو مشترک کور دی ،دغه کسان یا د پردو نوکران دي او یا هم ډیر ناپوه خلک دي کوم چې په ناپوهۍ سره زمونږ په هیواد کې د نفاق تخمونه کري.

ددی خبرو تر څنګ زیړګل دې نتیجې ته رسیدلې وه چې د ا وخت هغه باید خپلو درسي پرګرامونه تعقیب کړي تر څو د علم او پوهې له لارې خپلو هیوادوالو ته د خدمت مصدر وګرځي.

خو دداسې مصریفیوتنو سره سره زیړګل د اکا ، کاکا ناوې او شین خالۍ د فکر او اندیښنو څخه فارغه نه وه او همیشه به یې یادول او د هر لمانځه وروسته هغو ته دصحت اوسلامتیا دوعاوې کولې.

په شین خالۍ هم د زیړګل د مساپرۍ اسر د وارایه بښکاریده او کله کله به د هغه په چرت کې لاړه.
هغې هر مازیګری د زیړګل د شوتلو پنډ او د څارویو راوستل د کلا انګړ ته په سترګو کې وه او همدارنګه په باغچه کې د هغه د لاس کرلې ګلان به یې په اوربل کتارول او د فکر د غلتولو لپار د خور لنډو سره وخت تیروه.

زیړګل یو مانبام چې تمامه ورځ یې په درس او دخونې په د پاکولو او نظم راوستلو وار تیر کړې وه

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

ډیر ستړی معلومیده ، په خپل چپرکت پریوت او د شین خالې پـــه فکر کې ېې هغه وختونه په زړه شول کوم چې هغې ته ېې د زرګر د دوکان څخه خیالي چارګل رانیولـــې وه او غوښتل ېې چې شین خالې ته ېې د کمکې اختر په مناسبت په اختر مبارکې کې ډالۍ کړي ،چې هغه وخت ېې په لاره کې د ځانه سره داسې زمزمه کوله :

خیالي چارګله
ښکلی چارګله شینو جانې له دې وړمه

هغه چې د شین خالې توري زلفې ،ښکلی دغاړې هار او د جګې پوزې چارګل په سترګو کیده نو داسې به ېې ویل:

زلفې ېې توري تور اوربل ېې مزې دار دی نا
څومره ښایسته په غاړې پروت د زرو هار دی نا
دا سور چارګل ېې پاس په پوزې پرې دار دی نا
مین ېې کړمه
دا پټ کاته ېې په زړګي ویشتل کوینه

زیړګل ته د شین خالې د بنګړو شرنګهار ډیرخوند ورکاوه او د هغو په وصف کې داسې زمزمه کوله:

د شنو شنه بنګړونه ډک سپین مړوندونه دي
د بنګړو شرنګ ېې لیوني کړه عالمونه دي
ظالمې کړې دي د خیا له ډیر کبرونه دي
ستې ېې کړمه
شرنګ د بنګړو ېې عالمونه خبروینه

او د خپلې د خوږ زړګي تسل ېې په لاندې بیتو کې ختماوه:

خیا لي چارګل مې د اشنا په پوزه سپور ښکاریده
څومره ښاسته لباس کې وتې حال ېې نور ښکاریده

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

ښايسته سور شال کليوالي ېې په سر خور ښکاريده
نظره نه شي
دا افغاني لباس ېې څومره خوند لرينه

خيالي چارګله

خيالي چارګله
ښکلی چارګله زرو جانې ته دې وړمه

زلفې ېې توري تور اوربل ېې مزې دار دی نا
څومره ښايسته په غاړې پروت د زرو هار دی نا
دا سور چارګل ېې پاس په پوزه پرې دار دی نا
مين ېې کړمه
دا پټ کاته ېې په زړګي ويشتل کوينه

د جلې شنه بنګړونه ډک سپين مړوند ونه دي
د بنګړو شرنګ ېې ليوني کړه عالمونه دي
ظالمې کړې يې د خيا له ډير کبرونه دي
ستې ېې کړمه
شرنګ د بنګړو ېې عالمونه خبروينه

خيا لي چارګل مې د اشنا په پوزه سپور ښکاري
څومره ښاسته لباس کې وتې حال ېې نور ښکاري
ښايسته سور شال کليوالي ېې په سر خور ښکاري
نظره نه شي
دا افغاني لباس ېې څومره خوند لرينه
*** ******

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library



اتمه برخه

شین خالی

د شین خالی دکیسو او بندار نژدې ملګرې د هغې خورلنډې وې خو نژدې خوا خوږې د هغې مور وه چې د زړه خبرې به يې ور سره شريکولې.

شين خالې د زيړګل په لرې توب تل غمجنه وه چې دهغې دغم احساس د هغې په ظاهري بڼه کې له ورايه څرګنديده، هغې د زيړګل په اړه يوه ورځ خپلې مور ته داسې وويل:

مورجانې !
ابا خو زيړګل ته ويلي وه چې هغه به د اونيو په رخصتبوکې کلې ته راځي ، اوس خو شپږ مياشتې تيرې شوې دهغه د راتګ هيڅ پته ونه لګيده ،بيګا مې هم پريشانه خوبونه ليدلې، خدای دې وکړي چې ناروغه شوې نه وي.

موري ورته په جواب کې وويل:
شين خالې ته ډير چرتونه مه وهه ، هغه بله ورځ پلار دې د دهقان سره د ولايت بازار ته تللې وه ، د پلار دې هغه په همغه ورځ د زيړګل سره په تيليفون کې خبرې شوې وې ، پلار دې ويل چې دهغه درسونه زيات دي او وابې چې هغه بايد ډير درس ووايې ځکه چې د ډاکټرۍ اول کال ډير زحمت پکار لري وابې که څوک په دې کال کې بريالی نه شي بيا نو ډاکټري د فاکولټې چانس له لاسه ورکوي ،همدا وجه ده چې زيړګل شپه او ورځ درس وايې چې په خير کامياب او ښه ډاکټر ترې جوړ شي.
او دا يې هم ويلې وه چې څو ورځې ورسته بې له خيره سره د دوو اونيو لپاره رخصتي شروع کيږي

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

او کور ته راځي، ته چرت مه وهه او دوعا وکړه چې په درسو کې بریالی شي۰

شین خالۍ ددې خبرې په اوریدو ډیره خوشاله شوه او په زغرده دزرغانګې کورته چې د هغې نژدې خورلنډه وه او په راتلونکوځو ورځو کې بې دواده تیاري نــیوله ،هغې ته یې د زیړګل دراتلو خبر ورکړاو خپل د خوشالې احساس بې دهغې ترغوږووورساوه۰

زرغانګې وویل ۰ زه هم د خدایه دا غواړم چــې زیړ ګل زما د واده پورې راشې خکه زیړ ګل خو به زما واده په خپل ښکلې اواز او سندرو نور هم ښکلی کــړي ، زه همدا اوس مې پلار ته وایم چې هغه ته زما د واده کارت ولیږي۰

دزیړګل هم د لمړې سمستر پرګرام په ډیر کوشش او زحمت پای ته په رسیدو وه چې د سمستر په اخر کې د دوو اونیو درخصتې لپاره تیــاري نیوله نو همدا وجه وه چې شین خالۍ ، اکا او کاکا ناوې ته دسوغاتونو د اخستلو په نیت دخپل دخونې د ملګرې سره ښارته وتلې وه او دعلاقې وړ سوغاتونه یې هغو ته راونیول۰

شین خالۍ چې د بنجاره سینګار ډیر خوښیده، هغې ته یې شنه اوسره بنګړې، جامې ښکلې ټیک او ډیر نور بنجاري سامان ، او همدارنګه د کاکا ناوې ته ښکلې شین رنګه شال او تره ته یې ښکلې پالاوۍ لنګې راونیوله او ټول یې په مناسب ځای کې ځای پرځای کړل تر څو پس له شپږ میاشتې مساپرۍ د هغو زړونه د سوغاتونو په ورکولو خوشاله کړي۰

څو ورځې وروسته د زیړګل د لمړې سمستر درسونه پای ته ورسیدل او د خپلو هلوځلو او زیارځخه راضي معلومیده داسې احساس بې کاوه چې هغه څــه چې یې پتیلې وه پــه همغه ډول یې درسونه تعقیب او د نتیجې څخه یې راضې وه خو ددې رضایت او خوشالۍ تر څنګ دا چې سبا کلې ته روان وه او پس له څو میاشتو بیا دا موقعه تر لاسه کوې چې خپل کلو باندې وته ځې د ډیرې خوښې شیبې شمیرلې او دځانه سره به یې ویل چې څنګه به سبا ځــان د موټرو تم ځای تــه رسوي او کله به بیا په خپلو کلي او ځمکو ګرځي او دشین خالې خیا لې اوربل ته بــه په باغچه کــې ښایسته اورنګارنګ ګلان کړي۰

سهار زیړګل د سهار دلمانځه ورسته خپل بیک چې تیر مانښام یې دسفر لپار جوړ کړي وه تر غاړې کړ اودخپلو د خونې د ملګرو څخه یې چې هغوی هم د رخصتبو څخه په ګټه اخستو خپلو کلو او

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

کورو ته روان ول خدای په اماني و اخیسته او د خپل ولایت د موټرو تم ځاې ته روان شو ، د بس په تم ځاې کې یې د خپل ولایت ډیر ې اشنا ځیرې تر سترګو شوې خو د زرځانګې پلار یې دورایه وپیژانده او د هغه سره تر روغبړ وروسته دواړه په بس کې څنګ ترڅنګ چوکیو کې کیناستل او د لارې ملګري شول۰

په لاره کې زیړ ګل د زر ځانګې د پلار څخه مرکز ته د هغه دراتګ وجه وپوښتله اوورته یې وویل :

کا کا خیریت خو به وه څنګه مو دلته پیښه شوې وه ؟
هغه په جواب کې ورته وویل:

زیړ ګله !
ښه شوچې ومې لیدلې ،ما فکرکا وه چې تا به زه څنګه پیدا کوم ،ښه شو چې خدای دلته را پیدا کړې۰هغه دبس په اخره څوکې کې چې ناست دې هغه ځما ځوم دی او د کوزکلي د زمانخان اکا ځوی دې اوهغه تورسرې چې وینې یوه یې زرځانګه او هغه بله یې مورده ۰

مورِ دلته د واده خرید ته راغلې وؤ ، خرید موکړ ، که د خدای رضاوې بله اونۍ د زرځانګې واده دی ، ښه شو چې ته راغلې چې دواده په کارو کې برخه راسره واخلې ،تا خو همیش دکلې په مړې او ژوندي کې کلیوالوته ځان رسولی دي بس د میلمنو پالنه او هغوسره د ګپ ،شپ او ټنګ ټکور دنده مو تاته درسپارلې ده ۰

زیړګل ورته په لمړي سر کې د خوښی مبارکي وو یله اوبیا پې ورته اطمینان ورکړ او وې ویل :
تاسو بیغمه او سې کاکا زه کارونه جوړوم۰

په همدې ډول ترکلي پورې دواړو د زړه خواله وکړه اوپس له څه مدې منزله کلې ته ورسیدل او د بس څخه کوز او د کلي په لو ر روان شول۰

زیړ ګل کلي ته د رسیدو مخکې د امین اکا په دیره کې دکلي دځوانانو سپین ګرو او نورو اوسیدونکو ګنه ګونه تر سترګو شوه۰
هغه ځان په چټکی ورساوه چې ګوري د سواد او زدکړې استازي کلي ته راغلي تر څو د بیسوادی د له مینځه وړولو لپاره سرشمیرنه وکړی چې څومره ښځینه او څومره د کلي نارینه اوسیدونکي چې

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

د سواد د نعمت څخه محروم دي ددی کورسونو د تعقیبولو لپاره چمتو دي.

د کلي اوسیدونکو د زیړګل په لیدو خوشاله شول او دهغه د هرکلي لپاره مخې ته ورغلل.
پس له روغبړه زیړګل په احوال ځان خبر کړ او ټول دزیړګل د اکا باغچې ته راغلل او هلته زیړګل خپل کلي والو ته داسې ویل :
درنو خویندو او ورنو !
سواد او پوهه دا هغه د خدای لوی نعمت دي چې لوی خدای په خپلو بنده ګانو که نر وی یا ښځه فرض ګرځولی دی، زمونږ د پاک اوسپیځلي دین مشهوره لارښونه او حدیث مبارک دي چې وائي علم زده کړه که څه هم په چین کې وي . داچې او س مونږ ته په کلي کې داسې موقعه برابریږي د خوښۍ ځای دي چې زمونږ د کلي هغه خویندې او ورونه چې دا فرصت ولری ځان په دې کورسونو کې شامل کړي ،ترڅو په راتلونکو څو میاشتو کې د سواد او زده کړي د نعمت څخه بهره مند شي.
زما د سواد اموزۍ استازو ته دا وړاندیز دي چې د کلو دښځینه کورس لپاره دې زمونږ د کلي د زمان اکا لور زرخانګه چې یوه تعلیم یافته خورده د ښوونکې په توګه وګمارل شي.

د کلي ټولو اوسیدونکو د زیړګل خبری تاید او لاسونه یې ورته وپړکول.
استازوهم د زیړګل دا وړاندیزو مانه او د زرخانګې دپلار څخه یې هیله وکړه چې د زرخانګې موافقه پدې برخه کې د یو درخواست په ډول ولیکي چې مونږ یې نور قانوني مراحل د خلاصولو ورسته په دې دنده وګمارو او د نارینه کورسونو لپاره تکړه استاد حبیب الله خان دي چې دلته تشریف لري تاسو ته معرفي کوم.

د پروګرام ورسته زیړګل د کلا انګړ ته ننوت ، شین خالۍ او کاکا ناوی چې دمخه د هغه دراتګ څخه خبر شوي ول مخې ته راغلل او دهغه سره یې روغبړ وکړاو په لیدو یې ډیرخوشاله شول.
شین خالۍ هم د غرمې ډوډي تیاره کړې وه او ټول یو ځای په دستر خوان کې ناستل او د غرمې ډوډي یې نوشجان کړه.
د شین خالۍ مور زیړګل ته ویل څنګه شوه ځویه درسونه دې خدای دې وکړي چې ښه نتیجه دې تر لاسه کړې وي ؟
زیړګل ورته په جواب کې وویل :
موري بې زحمته سړي مطلب ته نشې رسیدلای ، زه د خپل زحمته راضي یم ، ښې نمري مې تر لاسه

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

کړي ،تاسې بیغمه اوسې ما باید زحمت ویستلې وای۰
د کاکا ناوې وویل۰ شکر چې ښه نتیجه دې ترلاسه کړې ده تل خوشاله او بریای اوسی۰

شین خالی هم د زیړ ګل په برې خوشاله وه ،پس له ډوډۍ زیړ ګل د شین خالی سوغاتونه د بیکه راوویستل او ورته یې په ډیره مینه ډالۍ کړل او همدارنګه د کاکا ناوی شال یې هم د هغې پر اوږو هموار کړ او د اکالنګی هم ورکړه چې اکا کورته راشې او هغه ته یې پر سر وتړي چې هغو هم د زیړ ګل سوغاتونه په ډیر خوښې ومنل او د هغه څخه ئې مننه وکړه۰

پس له خوشیبو خوږو کیسو او خبرو شین خالی د زرځانګې د واده خبر زیړ ګل ته ورکړ او د هغې دا هیله یې هم ورته وویله چې واده ته به یې ښکلی شعر جوړوي چې بیا په واده کې ئې په سندرو کې ووائې۰
زیړ ګل د شین خالی دا هیله ومنله او خپله شړې یې تر خان چارپیره او د دامان ځمکو ته د اکا د لیدلو په مقصد ووت۰
زیړ ګل د دامان ځمکو ته نژدې په یوه وړه غونډۍ کیناست او داسې زمزمه یې تر خولې شوه:

شپې دې د برات شه شه کلونه دې اختر
پل دې بختور شه ناوې پل دې بختور

زرځانګه چې د شین خالی نژدې خورلنډه وه او زیړ ګل ته یې ورور ویلی وه زیړ ګل د هغې د راتلونکې په اړه داسې هیله لرله:

پل دې بختور شه ناوې مینه کې دې کورشو
نوې اشنایي شوه نوی بل د مینې اور شو
ستا د حسن شمعه چې روښانه په هر لورشو
حسن دې ښکلا دې چیرې مه شه د نظر
پل دې بختور شه ناوې پل دې بختور

او د هغې د واده محفل یې داسې تمثیلوه:

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

نن چې دې محفل کـې خوشحالـي ده هم خـندا
خوښـې دې هـمزولـې دي په مـينه کـړي نڅا
يـې د نجـونو مـيره ټـول دا ستا په تمـاشـا
رب دې په نصيب کړه په ژوندون کې زيب اوزر
پـل دې بخـتور شـه ناوې پـل دې بخـتور

او په اخر کې د هغې د خوشبختې لپار داسې دوعا کوله:

ناوې نوی ژوند کې خوشحالي دې شه نصيب
کوردې بختورشه خوږ اشنـا دې شه طبـيب
اور يې چې بلـيږی پاک الله يې شـې قريـب
وی دی په امان کـې افغـانـي ښـکلی بشر
پـل دې بخـتور شـه ناوې پـل دې بخـتور

پل دې بختور شه

شپـې دې د برات شـه شـه کلـونه دې اختر
پـل دې بخـتور شـه ناوې پـل دې بخـتور

پل دې بختورشـه ناوې مـينه کـې دې کورشو
نوې اشنـايي شـوه نـوی بـل د مينـې اور شو
ستا د حسن شـمعه چـې رونبانه په هـر لورشو
حسـن دې ښـکلا دې چـيرې مـه شـه د نـظر
پـل دې بخـتور شـه ناوې پـل دې بخـتور

نن چې دې محفل کـې خوشحالـي ده هم خـندا
خوښـې دې هـمزولـې دي په مـينه کـړي نڅا
يـې د نجـونو مـيره ټـول دا ستا په تمـاشـا
رب دې په نصيب کړه په ژوندون کې زيب اوزر
پـل دې بخـتور شـه ناوې پـل دې بخـتور

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

ناوې نوی ژوند کې خوشحالي دې شه نصیب
کوردې بختور شه خوږ اشنـــا دې شه طبـــیب
اوریې چې بلـیږی پاک الله یې شـــې قریـــب
وی دی په امان کـــې افغـانـي ښـــکلی بشر
پـل دې بخـــتور شـــه ناوې پـــــل دې بخـــتور
*** ***

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library



نهمه برخه

زیړګل ته د دوؤ اونیو رخصتي بیا دا موقعه برابره کړه چې د پخوا په شان د کلیوالي ژوند څخه بهرمند شي او د کلیوالوسره راشه درشه ولري ، په غم ،ښادۍ او ورځنۍ ژوند کې دهغوسره کور اوکلی شي او همدارنګه د اکا سره د کــرنې او مالدارۍ پــه برخه کې مــرسته وکــړي او خپل د راتلونکی ژوند د ملګرې شین خــالۍ د ارمانو او هیلو د تر سره کــولو لپاره د هغې په چوپړ کې وي.

شین خالۍ د زیړ ګل څخه دا هیله لرله چې د هغې د خــورلنډې زرځــانګې په واده کې د هغه د پلار سره نژدې سلاکار اوسي ځکه چې زرځانګې مشر وروړ ندرلودهمدا وجه وه چې د هغه څخه دا تمه لرله چې هغه به د زرځانګې دپلارنژدی مرستندوی وی. زیړګل هم دا پټیله وه چې د واده په مراسم او تیارۍ کې د زرځانګې دپلار سره مرسته وکړي.

مانبام کله چې زیړګل څاروي د کلا انــګړ ته راوستل نو په شین خــالۍ یې غږ وکړ چې څاروي په خپلو ځایو کې وتړي تر څو د هغو لپاره آذوقه برابره کړي.

شین خالۍ او د هغې مور په ګډه څاروي په خپلو ځایو کې وتړل ،زیړګل چې د شوتلو پنډ تر شا او لور یې په لاس کې وه لمړی یې د شوتلــو پنډ د وچو وښو تر څنګ تــراوړې ښکــته کړ او لور یې د دیوال په د رز کی خښ کړ او بیا یې شوتله د وچو وښو سره ګــډه کــړه او د څــارویو مخې ته یې په کافي اندازه واچوله او خپل څادر یې چې شوتلــه پکې راوړې وه و څنډه او د کور په انګړ کې چې په ګلمونو ، توشکو او کټونوسنبال شوی ؤ کیناست.

شین خالۍ په بیړه چاې تیار اوپه پټنوس کې یې د تورو چایو پیاله د مساله دارې ګوړې سره د زیړ ګل مخې ته کیښود.

یو څه شیبې وروسته د شین خالۍ پلار او مور هم راغــله او شین خالۍ د هغو مخــې ته هم د شنو

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

چايوډکې پيالې کيښودلې.

زيړګل د تورو چايو څښکل عادت درلود ،مګـر د شين خالې مور او پلار دشنو چـايو څښکل غوره ګنل او ويل به يې چې د شنو چايو ګټې ډيرې دي خوشين خالې بيا دومره سر پرې نه خوږاوه هغې ته که تور چای وه او که شين تو پيرنه درلو د ،څـه چې به تيار وه هغې به څښل خو بيا زيړګل او د شين خالې مور او پلار ته خپل د خوښې چای عادت ګرځيدلی وه.

زيړګل د چاې اخـرې پياله پـه سر واړولـه چې د کـلې د ملا د الله اکبر آواز پـورته شو تـولو د جل جلالهو اواز تر خولې وخوت ، زيړګل څادر او اکايې شړې په اوږه کړه او د جومات په لور روان شول ترڅو دمانښام لمونځ په جمعه وکړي، دوې په ځغرده ځان جماعت او د جمې لمونځ ته ورسوه.

په کـلې کې د مانښام لمانځه ته د کلې اوسيدونکي حتمي جـومات ته راتلل ، په تيره بيا د کلې سپين ګيرې اوخوانان ځکه چې دورځې له خوا ټـول دکار او غريبې لپاره د کـلې څخه بهر وتل ، خوک به د بزګرې په کارونو بوخت وه ، ځوانان به د تعليم او زده کـړې لپاره ښوونځيو ته تلل ، په کلې کې تنها دکور ميرمنې او واړه ماشومان پاته کيدل چـې په خپلو کې بـې راشه درشه لـرله او هميش بې بنډارجوړ وه خو ددې بنډارو ترڅنګ د کور دکارونو سنبالول ، دجامو پريمينځل ، پخلې او نور ډير مصروفتونه وه چـې د کور نښځو هم په ډيـر زحـمت او کـړاونوورځنـې چارې تر سره کولې.
سبا د زرڅانګې پلار ، زرڅانګه د شين خالې کورته واستوله چې وګوري که چيرې زيړګل او تره يې په کوروي تر څو د واده په اړه د هغو سره خپل پروګرام شريک کړي.

د زرڅانګې کور د شين خالې د کور په څو قدمې کې وه پـدې توګه په کلـې کې د دې دوؤ کورنيو تک راتګ دکلی نورو اوسيدونکو په پرتله ډير ؤاو نښې اړيکې يې ساتلې.

زرڅانګې د زيړګل او د هغه د اکا شتون پـه کورکې خپل پـلار ته خبر ورکړ.هغه هم دځايه پاځيد ، پګړۍ يې په سر وتړله ، واسکت يې واغـوست او خپله تور بـخنه شړۍ يې تر ځان چار پيره کړ او د زيړګل د کور په نيت روان شواو هلته په رسيدو د هغو د کور ور وټکوه.

زيړګل د کلا ور خلاص کړ او د زرڅانګې د پـلار سره يې روغبړ وکـړ او هغه تـه يې کورته د ننوتلو بلنه ورکړه اودکور په انګړ کې ورته ځاې برابر کړ.

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

زیړګل ، دزیړ ګل اکا ، شین خالې او کاکا ناوي هم د هغه هرکلي ته راغله او د هغه په مخامخ لوري کیناستل۰

د روغبړ نه وروسته شین خالې د چای د جوړولـو لپاره لاړه او دوي خپل خبري د زرځانګي د واده په اړه پیل کړې۰

په پیل کې د زیړ ګل آکا د زرځانګي د پلار څخه داسې وپوښتل ؛

لعل میره !

څنګه شوه د زمانخان آکا سره مـو د واده په اړه څه وکـړل او څه نتیجې ته سره رسیدلي یاست ؟

د زرځانګي پلار ورته پـه ځواب کې وویل:

آکا ، که رښتیا راباندې وایې مامله خو جوړه ده ، داسې د جنجال یاستونځی کـومه خبره نشته ،زمانخان هم بد سړی ندې، که څـه هم د زرځانګـې مور یو څه اضافي بوجونه پر هغو ایښې ؤه، خـو کله چې زه خبر شوم ما د زرځانګي مورته قناعت ورکړ ، اصلي خبره خو داده چـې زرځـانګه زمونږ یواځینی لور ده ، مونږ بل اولاد یا وارث نلرو ،اوس که مـونږ په ځـوم دا بې ځایه مصارف او بوج واچوو نو دهغـو راتلونکی ژوند به د کړاونو سره مخ شي چې دا خبره ما د زمانخان سره هـم شریکه کـړه اوورته مې وویل څرنګه چې مو زړه وې، د استاسو خپله معامله ده او زه نـه غواړم چـې پدې بـرخه کې کوم شرط یا بوج درباندې کیږدم ، دبلې خوا د زمانـخان آکا دې هم کور اباد وې پوه او مشر سړی دی ، هغه زمـا ددې فیصلی څخه مننه وکړه او راته یې وویـل چې دا زمونږ او تاسو د خوښـی او دوستی خبره ده ،ستاسو دی کور آباد وي خو مونږ هـم خپل هوس اوآرمان لرو ، زمونږ هم دا هیله ده چې زمونږ واده او دا خوښی په ښه شان سره تر سره شي ،تاسی تشویش مکـوی مـونږ د کلی رسم او رواج نـه ستر ګې نه شو پټولی هغه څه چې لازمه او زمونږ په وس کې پوره وي هغه مونږ خپله هـم داتکل لرو چی زمونږ د اولادونو دا خوښي په پوره درنښت تر سره شي۰

د شین خالې مور په آخر د خبرو کې داسې وپوښتل؟

لعل میره آکا ، د واده ورځ او نیټه مو وټاکله ؟

د زرځانګي پلار ورته په جواب کې وویل:

هو د واده ورځ مو معلومه ده ، راتلونکي دجمعې په ورځ که دخدای رضاوي واده د ی ، همدا وجه ده چې آکـا ، زیړګل او تـاسو سره د مشورې لپاره راغـلی یم ترڅو د واده پـه تنظیم کې له ما سره برخه واخلې۰

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

په همدې ډول لعل میرآکا ، زیړګل ، او دشین خالې مور او پلار دواده پروګرام جوړ اودې پایلې ته سره ورسیدل چې د ښځو مراسم دې د زرخانګې دوی په کور او د نارینه و لپاره د شین خالې دوی په کورکې ځایونه برابر شي اومیلمنو ته د ډوډۍ جوړولو او پخلي کارونه دې هم دلته تر سره شي ۰

کله چې د زرخانګې پلار د زیړګل او دهغو د خپلوانو د مرستو او ژمنې وعده ترلاسه کړه نو دهغو نه په خوښۍ سره د خپل کور په لور روان شو ۰
زیړګل هم خپل ځادر په اوږه کړ، لور او بیل یې واخیست اود باغچې په لور روان شو ۰هغه د زمانخان اکا ځوی یا د زرخانګې کوژدن ا باسین له وړکتوب څخه پیژنده ، هغه به همیش پالاوۍ لنګۍ ترڅله او جګه شمله به ګرځیده ۰ نو کله چې په باغچه کې په کار بوخت شو دا زمزمه ېې تر خولې شوه:

پدې محفل کې نن خوشاله خوشالي ده
د شمله دارهلک ښادي ده

دزیړګل څخه شین خالې هیله کړې ؤه چې دزر څانګې واده ته به ښکلې شعر جوړوي چې دا زمزمه د زیړګل لپاره ښه الهام ؤه کوم چې د هغې په واده کې یې ډالې کړي ، زیړګل د هغې کلبوالي حسن ، خصلت او همدا رنګه د واده شپې ته داسې هیله لرله:

ناوکۍ څومره ښه ښکاریږي
په ناز همزولې یې ګډیږي
د هلک کورپرې ابادیږي
په خپل ښایست کې یې خصلت کلیوالي ده
د شمله دار هلک ښادي ده

زیړګل د هغې ښکلا او حسن ېې داسې تمثیلوه:

ناوې ښایسته لکه د ګل ده
څه د ښایست یې جلوبل ده
دا خوش بویي یې د سنبل ده

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

څومره ښايسته د غاړې هاريې طلايي ده
د شمله دارهلــک ښادي ده

د ا باسين او زرځانګې د نيکمرغې لپاره يې د اسې هيله لرله :

ناوکی پـــل دی بخــتور شه
شپی دې برات ورځ دې اخترشه
ژوندمــوروښانه لکه لمر شه
دا زمور هيـله ده اميد دا مو مرضي ده
د شمله دارهــلک ښادي ده

او په اخر کې يې دا دوعا هغو ته د زړه ووتله :

ښه اوږد ژوندون مو په نصيب شه
ښاد مو هم لرې هم قريب شه
مينه مـو ګــل اوعندلــيب شه
اوسی خوشالـه دا ډ الی د افغاني ده
د شمــله دار هلک ښــادي ده

ډ الی

پدې محفل کې نن خوشاله خوشالي ده
د شمـله دارهلک ښــادي ده

ناوکی خومـره ښه ښکاريږي
په ناز همـــزولې يې ګډيږي
د هلک کورپـــرې ابــاديږي
په خپل ښايست کې يې خصلت کليوالي ده
د شملـه دار هلک ښادي ده

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

ناوې ښایسته لکه د ګل ده
څه د ښایست یې جلوبل ده
دا خوش بویي یې د سنبل ده
څومره ښایسته د غاړې هاریې طلایي ده
د شملـه دارهلــک ښادي ده

ناوکی ِ پـــل دی بخــتور شه
شپی دې براتورځ دې اخترشه
ژوندمــوروښانه لکه لـمر شه
دا زمور ِ هیـله ده امید دا مو مرضي ده
د شمله دارهــلک ښادي ده

ښه اور ِد ژوندون مو په نصیب شه
ښاد مو هم لرې هم قریب شه
مینه مـو ګــل اوعندلــیب شه
اوسی ِ خوشالـه دا ډ الی ِ د افغاني ده
د شمــله دار هلک ښــادي ده

*** ******

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library



لسمه برخه

شين خالی

د زرخانګي او اباسين د واده انګازې پــه کلو او باندې وکــې خپرې شوې وې ،شين خالی هم د خپلې خورلنډې واده ته تياري نيولې وه ، هغه په تيره اونی کې د زيړ ګل او مور سره دولايت بازار ته تللې وه او ځانله يې د بزاز له هټی څخه دجــامو لپاره دخپلې خــوښې تــوکر او د بنجاري د دوکان څخه رنګارنګ د سينګار سامان رانيولی وه ۰

د اباسين پلار زمانخان اکاهم د اباسين او د زرخانګي د واده لپاره پوره تياري نيولې وه او دکلي د نائي په لاس يې ټولو کليوالو ، لرې او نژدې دوستانو ته د واده دبــلنې کارتونه او خبر ليږلي وه او هغوته دميلمستيا پروګرام جــوړ او د هغو د خــوشالی لپاره يې مشهوره هنري ډله رابللې وه او دکلي څخه بهر يې دامين ماما د ديرې ترخنګ پــه يوه شديارہ ځمکه کې ورته ځای برابر او هغه ځای يې په کټونو ګلمونو او توشکو فــرش او پــه ګيسونو دشپې له خوا روښانه کيدو لپاره يې ځوانان په کارګمارلي وه ۰

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

د کلي نائې ګلاجان چې په ګلاجاني مشهور او د غلام بابا ځــوې ؤ يوه ورځ د مخه د زمانخان اکا د کلا په انګړ کې ميلمنو ته د پخلي تياري نيولې وه، هغه داسې چې خپل لوی او واړه ديګونه او نور د اړتيا وړ سامان چې په هر واده کې بې تري کار اخيست له ځــانه سره راوړي ؤ او د پخلي لپاره بې څو ځايه لوی او واړه نغري جوړ کړي ؤ او همدا رنــګه بې پــه لويو او وړو ډيګونو کې وريجې په ګرمو اوبو مينځلې او دنرميدلو لپاره بې په اوبو کې ساتلې وې ، غوښه بې هم برخې برخې يخني او نرمه کړې وه ترڅو ورسته بيا دنورو کارونو لپاره پوره وخت ولري۰

په رښتيا سره هم ټولو کليو الواو د واده ميلمنو ته ميلمستيا اوهغو ته خوندور خواړه برابرول پوره زيار اومنډې په کارلري چې په کلو او باندو کې د نائيانو دا زيار د ستايلو وړ دي۰

ګلاجان او نورو دآشپزې ګروپ سهار دوخته د کلی د نــائې تر لارښوونی نغري بار او د هر رنګ خوراکونود پخولو کار پيل کړې وه ، دوه دري ډوله پلونه ، قورمه ، کوفته۰بنډۍ ،بانجان بورانې ،سابه ، چپس ،او سلات او ډيرنور هغه حتمي خوراک وه چې تر مازيګره بايد جوړ شوی وای۰ مازديګر کرار کرار کلي ته د ميلمنو راتګ پيل شو چې د زمانخان اکا ، اباسين او د کلي د سپين ګيرو له خوا ورته هرکلی ويل کيده او د ځوانانو له خوا تاکل شوي ځای ته چرته چې د ميلمنو لپار جوړ شوی وه بدرګه کيدل۰

تاکل شوي کسانو به ميلمنو ته دلاس مينخلو اوبه وروړلې او نور ځوانانوبه د دستر خوان په خوړو خوړو سمبالوه او ميلمانه به ډلې ډلې راتلل او ډوډۍ به يې نوشجان کوله او بيا به د امين ماما د ديري په لور د سيل لپاره تلل۰

کله چې د ډوډۍ پروګرام خلاص شو نو د امين ماما د ديرې ترڅنګ د ميلمنو لپاره مو ظفو کسانو چاې اوبه او چلم ګرځاوه تر څو د ميلمنو احترام يې ساتلې وې۰

د کلي او ميلمنو په خيرو کې د خوشالۍ روحيه دورايه خرګنديده اوښايسته ګڼه ګوڼه وه۰ څه شيبه ورسته سازيانو د موسيقی د آلو په سورولو پيل وکړ اوبيا ګل محمد استاد چې په ګلکي مشهور وه او په سيمه کې د ښه شهرت خــاوند وه ارمونيه تر غاړه کړه او همدا رنګه د يارمحمد استاد د تبلو اواز د کــلې او سيمی د خــلکو تر غــوږ شو۰ سازيانو په وار سره دبهاړي، بيرمي، بياګ، کستوري، کليان، اسا ، او جــوګ پــه راګونــو کې دمقام ، غزل ،لنډۍ ،چــاربيتې،لوبې ، بګتۍ او دا ستانونه په خپلو خوږو اوازونو کې راغلو ميلمنو او تماشا چيانوته اورول۰

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

څو شیبې وروسته زیړ ګل هم د شین خالې د خور لنډې زرخانګې په کور کې چې د ناوې خپلوان او خورلنډې په واده راغلي وې، د ډوډۍ او نورو مراسمو ورسته د خپل انډیوالانو سره د اباسین دلیدو او هم د سیل په مقصد د زمانخان اکا کلي ته راغلل۰
د زیړ ګل دوستانو د هغه په لیدو هغه ته ښه راغلاست ووایه او د هغه څخه یې هیله وکړه تر څو ددوی د خوښۍ لپاره سندرې ووایې ، که څه هم زیړ ګل په اوله کې رضایت نه ښوده نو چې کله اباسین د هغه څخه هیله وکړه نو بیا یې ارمونیه خپله کړه او د دې سندریې په ویلو سره چې شعر خپله ورته جوړ کړی وه خپل اواز پورته کړ۰

پدې محفل کې نن خوشاله خوشالې ده
د اباسین هلک ښادۍ ده

ددې سندرې په اوریدلو سره د واده ګډون کونکو کې شور او احساسات نور هم زیات شول او ټولو ورته په خوشالۍ لاسونه وپکړول او د واده فضا نور هم توده شوه۰ زیړ ګل یو څو نورې سندرې وکړې او ورسته بې د دوستانو د تشویق څخه مننه وکړه او د ملګرو سره په کټ کیناست۰
په همدې ترتیب د شپې تر ناوخته پورې د واده نور مراسم د سازیانو په خوږو نغمو او سندرو دوام وکړ او ورسته میلمانه په احترام او عزت رخصت او د اباسین دواده خوږه شپه ورته خوږه خاطره پاته شوه۰

سبا دورځې ساز او د واده مراسم ادامه درلود ، مازدیګر ډولۍ جوړه شوه او د کلي ځوانانو ډولۍ جګه او د ساز په بدرګه دناوې د راوستلو په نیت د لعل میر اکا د کور په نیت روان شول۰
کله چې ورسیدل د کلي ملا د سپین ګیرو او میلمنو په ګډون د اباسین او زرخانګې شرعي نکاح وترله او د کلیوالو او د واده ګډون کوونکو په ګډون کې په ډیره خوښي او خوشالي ناوې په ډولۍ کې سپره او د زمانخان اکا خوښي تر سره او آباسین خپله کوژدنه په کاله کړه۰

کله چې د واده مراسم خلاص شول زیړ ګل د خپلې باغچې په لور روان شو تر څو د ګلونو او ترکاریو خبر واخلي په لاره کې یې د خپل واده په فکر او سوچونو هم غرق وه چې د باغچې په رسیدو یې د شین خالې په یاد دا زمزمه په خوله شوه:

دزړه باغچه کې درته ګل کرمه

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

رامبیل، چمبیل، نرګس، سنبل کرمه
دا بــه وعــده راسره ګـدې دلبرې
دګلو سیل لــه بــه راځــې دلبرې

زیړګل په خپل تصور کې شین خالۍ ته داسې پیرزوینه لرله:

د زړه باغچه کې درته خیال جوړوم
د ښــا پیــریو پــکې تـال جوړوم
زمــا دا هیلــه بــه منې دلبرې
دګــلو سیــل لــه بــه راځې دلبرې

او د شین خالۍ څخه پې دا تمه لرله :

زما د پــاکې مینې ښکلې بڼ کې
ستا د ښایسته حسن منلې بڼ کې
د وفــا لاس بــه راکــوې دلبرې
د ګــلو سیل لــه بــه راځې دلبرې

او پر هغې یې داسې سپارښتنه کوله :

زما د مینې او سرو ګلو باغچه
د رنګــینو ،بــاغ او بلبلو باغچه
بیا لــه خــزانه به ســاتې دلبرې
دګلو سیــل له به راځې دلبرې

او په آخر کې پې د خپل د زړه هیله په لاندې بیت ختم او خپل د زړه خبرې پې شین خالې ته په سوچونو او خیالونو کې داسې ډالۍ کړې :

ترڅو پــدې باغچې خزان ګډشي
په سرو ګــلونو مې تالان ګډشي
پاس په لیمو به قدم ګدې دلبرې
د ګــلو سیل له بــه راځې دلبرې

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

د زړه باغچه

دزړه باغچه کـې درتــه ګل کرمه
رامبیل، چمبیل، نرګس، سنبل کرمه
دا بــه وعـده راسره ګـدې جانانه
دګلو سیل لــه بــه راځــې جانانه

د زړه باغچه کې درته خیال جوړوم
د ښــا پیــریو پــکې تـال جوړوم
زمــا دا هیلــه بــه منې جــانانه
دګــلو سیــل لـه بـه راځې جانانه

زما د پــاکې مینې ښکلي بڼ کې
ستا د ښایسته حسن منلي بڼ کې
د وفــا لاس بــه راکـوې جانانه
د ګــلو سیل لــه بـه راځې جانانه

زما د مینې او سرو ګلو باغچه
د رنګـینو ،بـاغ او بلبلو باغچه
بیا لــه خـزانه به ســاتې جانانه
دګلو سیــل له به راځې جانانه

ترڅو پــدې باغچې خزان ګډ شي
په سرو ګــلونو مې تالان ګډ شي
پاس په لیمو به قدم ګدې جانانه
د ګــلو سیل له بـه راځې جانانه
*** ******

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library



شين خالې

د زيړ ګل د دوو اونيو رخصتي په ختميدو وه، خو دکلو او بانډو د خوږ او ساده ژوند او د خپلې کوژدنې شين خالې څخه بيا لرې کيدل ورته ګرانه خبر وه. خو بله چاره يې نه وه ،هغه د خپل روښانه راتلونکې په هيله دا پټئلې وه چې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي، په همدې هيلې مازيګر يې خپل داړتيا وړ شيان راټول او په سفري کڅوړه يا بيک کې ځای پر ځای کړل.

سهار دلمانځه وروسته زيړ ګل د اکا ،کاکاناوې، شين خالې او دکلي نژدی اندېو الانو څخه خدای پامانې اودوعا ترلاسه کړه اودولايت دمرکز په نيت روان اوبيا دهغه ځايه په بس کې له څو ساعته مزل وروسته ځان د پوهنتون ليليې ته ورساوه.
کله چې ليليې ته ورسيد ، د خونې اندېولان او يوشمير همصنفيان يې هم دهغه تر مخه د رخصتې څخه راغلې وه چې دزيړ ګل په ليدولو ځايه پاڅيدل او دهغه سره يې تو د روغبړ وکړ.

زيړګل لمړی خپل کالي په الماری کې ځای پر ځای او بيا يې خپله بستره او الماري تر نظره تيره کړه او تر هغه وروسته دخونې د اندېوالانو سره ددوو اونيو د رخصتيو خاطرې شريکې کړې چې د دوی دا بندار تر ناوخته پورې دوام وکړ.
مانبام زيړګل دسباورځې درسي مواد برابر اوسها ردخپلې پوهنځې په لور روان شو او د خپل ګروپ د نورو محصلينو سره يو ځای يې په درسونو پيل وکړ.
زيړګل په همدې ورځ د پوهنځې دتدريسي څانګې څخه دنوی سمستر درسي پلان ترلاسه کړ تر څو ددغه پروګرام په اساس خپل ځان عياراو ددغه فرصت څخه پوره ګټه واخلي.

په همدې ترتيب زيړګل هره ورځ د پوهنتون په چاپيريال او محيط کې د نوو درسونو ، استادانو، سياسي او ټولنيزو مسايلو سره آشنا کيده چې په هغه وخت د پوهنتون په ساحه کې مختلف

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

تنظمي اوحزبي فعالتونوجريان درلود او هر تنظيم کوشش کوه چې خپل صفوفوته ځوا نان جلب کړي.
مختلفو تنظيمونومشخصې موضوعګيری او نظر ياتو لپاره کار کاوه چې دکلوبانړو ،ولاياتو ، مملکت او په نړی کې دخلکو اوحکومتونوسيا ستونوپه اړه هرې ډلې خپل نظريې څرګندولې. اکثرا دا بحثونه په وطن او نړيواله کچې د فقر،بدبختی او بيعدالتی په مدارځرخيدل .

يوی ډلی به د يوې سياسي ايډلوژي څخه او بل ګروپ به بيا د بلې سياسي موضوع ګيری څخه دفاع کوله. ددې حالت څخه داسې معلوميده چې مختلفو پارټيواوګوندونو دځوانانو په مينځ کې دخپلو صفوفودتقويې په مقصد جدي کار پيل کړي وه. دا بحثونه په زړه پورې په دې وچې هر يو به په وطن کې دبدبختيو عوامل په مختلفونظرونو کې تحليل او ارزيابي کول او ځوانان به يې په وطن کې ديوی عادلانه ټولنې د مينځ ته راتګ په مقصد مبارزې ته را بلل او په همدې ترتيب دخپلوعلاقې ورې پارټی او تنظيمونوکې تنظيمول.

ځينو بيا داسلام مقدس دين ته د خدمت په منظور او په وطن کې د اسلامي اصولودتطبيق په مقصد خلک جهاد ته را بلل او ددې ټولو بد بختيواصلي عامل يې اسلامي اصولودنه مراعت کيدو دليل باله اوخلک يې ددې مقدس هدف دعملي کولوپه مقصد په اسلامي ليکوکې تنظيمول او کفرسره يې دجهاد نارې پورته کړی وې.

ځينې نورو بيا د مارکس اونګلس د ايډولوژی طرفداران وه چې هغوی ددې بدبختيو اصلي عوامل په وطن کې د طبقاتی ژوند موجوديت باله او داسې يې تحليل کاوه چې مورې بايد زيربنا يا اساس ته تغيرورکړو ، اوپه وطن کې دعادلانه اوانساني ټولنې د راوستلو لپاره کار وکړو او دهمدې مقصد او هدف لپاره خلک طبقاتي مبارزې ته دصلح اميزه لياړې رابلل.
ځينونورو بيا دمارکسيستي سياست په تايدولو سره دقهراميزسياست طرفداروچې د مايوستانو په نامه يادېدل، بلې ډلې بيا ددې ټولو بدبختيو عامل د افغانانو په عدم اتحاد کې څرګند اوه او د ټول افغان ملت يووالي اوديو موتی افغانستان د جوړولو ادعا يې کوله او خلک يې اتحاد او اتفاق ته رابلل.
په همدې ترتيب هر ورځ د پوهنتون په ماحول کې محصلينو دداسې بحثونو سره سر او کار درلود چې دځوانانو د پاکواوسپيځلو ،ملي ،وطني ،اسلامي اوانساني احساساتو په استفادې سره دسياسي پارټيوصفوف ورځ په ورځ تقويه اوپه وطن کې د ډلو ، ټپلو ، تنظيمونو اوګوندونو

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

لپاره تهداب ایښودل کیده چې دیو واحد وطن ، دین او ائین خلک یې پـــه مختلفو ګروپونو پارټیو او تنظیمونو تقـسیم او دنفاق اوبدبختی کندې ته ګذار کړل.
زیږ ګل د دې ټولو استدلالونو او نظریاتو د اوریدو تر څنګ د ټولو افغانانو د یو مشترک حرکت طرفدار وه او داسې بې پتیلې وه چې ښه به داوې چې خپل درس او تعلیم ته ادامه ورکړي او ددې لارې خپلو هیوادوالو ته د خدمت مصدر وګرځي ،نه د هغه صادرشویو ایدلوژي ګانو څخه چې د پردو په اشاره زمونږ پرخلکو تجربه کیدل .

زیږ ګل ته هم لکه دوطن نوروبادرده هیوادوالو په څیر دا ناخوالې بې هیڅ نه وې خو هغه نه غوښتل چې ځان په یوه محدوده حلقه کې شامل کړي ، هغه ددې طرفدار وه چې دټولو هغه کسانو سره چې رښتینې احساس ولري او د پردو او صادر شووحرکتونو پـــه خلاف وي ښه اړیکې وساتې او هغه دګران وطن، هیوادوالو اود وطن کلیو اوبانډو سره مینـه لرله او د نیکونو تاریخي کارنامو او لاسته راوړنو تـه په درنه سترګو کتل او دغلیمانو شوم اعمال بـــې غندل اوپدې لار کې هر ډول سرښندنې ته تیار وه چې خپل دغه وطني احساسات بې پـه شعري الفاظو کې داسې زمزمه کول:

دا مـو د خاپـــوړو کلی کـــور دی
دا مو د نیکـــــو د تـــوري زور دی
ورک به شي غلیم چې مـخ یې توردی
سر به تري قربان کـــړم د بـــــدن سره
مینه مـــــوږ لرو دخپـــــل وطن سره
دا وطن په مـــوږ باندې ډیر ګران دی
دا زمونږه خـــــوږ افغانستـــــان دی

هغه به د وطن ښکلې طبیعت ،باغونه او ځنګلونه په خپل شعر کې داسې ستایل :

لوړ چې په هـــوا کې یې بازان ګرځي
هلته په ځنګلو کې یې زمریان ګرځي
جوړ په سردرو کې یې طوطیان ګرځي
مست یې بلبـــــلان د باغ او بـن سره
مینـــه مـــــوږ لرو د خپل وطن سره
دا وطن په مـــوږ باندې ډیر ګران دی

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

دا زمـــوږه خـــوږ افغانستـان دی

اود خپلو نیکونو اوپلرونو افتخارات ، د وطن ملي شخصیتونه او دهغود کارنامو نه داسې یادونه کوله:

دا وطن خوشحال غوندې بچیان لري
دلتـــه کې نازو انا لمسیـــان لري
لوی احمـد شاه ستر نوم په جهان لري
ساتو به یې شـــــارې د چمن سره
مینـــه مورږ لرو د خپـل وطن سره
دا وطـــن په مورږ باندی ډیر گران دی
دا زمـــوږه خورږ افغانستـــان دی

او دگران وطن افغانستـــان د مختلفو جغرافیوي موقعتونونه یې داسې ستاینه کوله :

وگـــورئ هرات دی که لغمـــان
یا که ننـــــگرهار دی که جوزجان
پورته قـــطغن که بدخشـــــان
غرونه یې ښه ښـــکاري دمعدن سره
مینه مورږ لرو د خپـــــل وطن سره
دا وطن په مورږ بانـــدی ډیر گران دی
دا زمـــــوږه خورږ افغانستـــان دی

د وطن هاند او څپاند سیندونه او دریابونه او دهغو ښکلا او طبیعت ته داسې تعریف ورکاوه:

وایي هریرود اوبـــه خـــــورږ لري
سیند د ارغنـــداب جگې څپې لري
گوره د کنړ سینـــــد څه نخرې لري
جـــورې تري بیالې دی د سربن سره
مینه مورږ لرو د خپـــــل وطن سره
دا وطن په مـــورږ باندی ډیر گران دی
دا زمـــــوږه خورږ افغانستـــان دی

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

په آخر کې به ېې د وطن د افتخاراتو او د نیکونو په کار نامو داسې ویاړ او یادونه کوله :

دا وطـــن زمـــــوږه افتخـــار دی
دې کې موعزمت دنیـــــکه پلاردی
دا د افغـــاني کلتـــوریادګـــاردی
لاس په ګریبان ګرځـــوله دشمن سره
مینـه موږ لرو دخپـــــل وطن سره
دا وطن په موږ باندی ډیر ګـــران دی
دا زموږه خـــــوږ افغانستـــان دی

ګران وطن

دا مـو د خاپـــــوړو کلی کـــــور دی
دا مو د نیکـــــو د تـــــورې زور دی
ورک به شي غلیم چې مـخ یې توردی
سر به تري قربان کـــړم د بـــــدن سره
مینه مـــــوږ لرو دخپـــــل وطن سره
دا وطن په مـــــوږ باندی ډیر ګران دی
دا زموږه خـــــوږ افغانستـــــان دی

لوړ چې په هـــوا کې یې بازان ګرځي
هلته په ځنګلو کې یې زمریان ګرځي
جوړ په سردرو کې یې طوطیان ګرځي
مست یې بلبـــــلان د باغ او بـن سره
مینـــه مـــــوږ لرو د خپل وطن سره
دا وطن په مـــــوږ باندی ډیر ګران دی
دا زمـــــوږه خـــــوږ افغانستـــان دی

دا وطن خوشحال غوندې بچیان لري
دلتـــــه کې نازو انا لمسیـــــان لري
لوی احمـد شاه ستر نوم په جهان لري

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

ساتو به يې شـــــاړې د چمن سره
مينـــــه مورِ لرو دخپـــل وطن سره
دا وطـــن په مورِ باندی ډير گران دی
دا زمـــــوږه خورِ افغانستـــــان دی

وگـــــورئ هرات دی که لغمـــــان
يا که ننـــــــگرهار دی که جـوزجان
پورته قـــــطغن که بدخشـــــــان
غرونه يې ښه ښـــــکاري دمعدن سره
مينه مورِ لرو دخپـــــــل وطن سره
دا وطن په مورِ بانـــدی ډير گران دی
دا زمـــــــوږه خورِ افغانستـــــان دی

وايي هريرود اوبـــه خـــــــورې لري
سيند د ارغنـــــداب جگې څپې لري
گوره د کنړ سينـــــــد څه نخرې لري
جـــــورې تړې بيالې دی د سربن سره
مينه مورِ لرو دخپـــــــل وطن سره
دا وطن په مـــــورِ باندی ډير گران دی
دا زمـــــــوږه خورِ افغانستـــــان دی

دا وطـــن زمـــــوږه افتخـــــار دی
دې کې موعزمت دنيـــــــکه پلار دی
دا د افغـــاني کلتـــــــوريادگار دی
لاس په گريبان گرځـــــوله دشمن سره
مينه مورِ لرو دخپـــــــل وطن سره
دا وطن په مورِ باندی ډير گـــــران دی
دا زموږه خـــــــورِ افغانستـــــان دی

****

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library



دولسمه برخه

شين خالی

زيړګل ته د پوهنتون چاپيريال د پوهې ، تعليم او تربيې ماحول وه چې هره ورځ به د نوو درسي موادو اوهمدا رنګه د پوهې او علميت دبا کرکتره ځوانانو ، استادانو او دوستانو سره آشنا کيده چې د هر چا ه سره به بې په پراخه ټنډه او ښه سلوک رفتار کاوه اوهمدا وجه وه چې په ډير ه لږه موده کې د ډيرو مخلصو او ريښتينو دوستانو او ملګرو سره آشنايې پيدا کړه اود دوستانو په مينځ کې د ښه ادبي او اجتماعي کرکټر خاوند شو ۰

شين خالی هم چې د زيړګل لرې والي زورولە د زيړګل دا هيله يې عملي کړې وه چې دليک لوست په کورس کې ځان شامله کړی ، هغه به هره ورځ د کلي د نجونو سره د ليک لوست کورس ته تله۰ د دې کورس ښوونکې د شين خالی نژدې خور لنډه زرغانګه کوم چې د سواد او زده کړې مسؤلينو ته زيړګل او د کلي اوسيدونکو وړاندیز کړی وه مقرره شوې وه ۰

زرغانګه کله چې د دولسم ټولګي څخه فارغه شوه ، ورسته په عالي دارلمعلمين کې شامله شوې وه خويو کال وروسته ديوځه ستونزو پر بناونشو کړای خپلې زده کړې ته ادامه ورکړي چې د سواد اموزی د کورسونو په مخکې وړولو کې د هغې ټاکنه مناسب او په ځای چانس وه د کلي ښځينه د سواد او زدکړې په کورسونو کې۰

شين خالی او نورو خورلنډو يې په شوق درسونو ته را تله چې په ډيرلږوخت کې يې دالفبا د تورو سره اشنايې پيدا کړې وه او حروفونه يې يو د بل سره وصل او ورو ورو لوستل او هغوته دا تمه او اطمينان پيدا شوې وه که د خداي رضا وي ډير زر به د سواد او زدکړې خاوندانې شې۰

په همدې ترتيب ژوند خپل پرله پسې تيرول او پدې فاني نړۍ کې هر څوک په خپلو خولو لوند او هرچا

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

د خپل خوشاله راتلونکي په هیله خپلو هلو ځلو ته ادامه ورکوله او پدې هیلو او ارمانونو کې شین خالې او زیړ ګل هم د روښانه راتلونکي په هیله شپې او ورځې تیرولې ۰

زیړ ګل لاد خپل خپلو لوړو زده کړو څلورم کال نه وه ختم کړی چې د ژوند دنوو ستونزو سره مخامخ شو ، هغه داسې چې اکا یې د اوږد عمر هلو ځلو ورسته چې روزګار په ملا کړوپ کړی وه نور نشو کولای د ستونزو سره مقابله وکړي ، دهغه سن او سال او دهغه صحي حالت د اطمینان نه وه ، که څه هم شین خالې او موریې څو واړې طبیبانو او د ولایت د روغتون ډاکترانو ته بیولی وه خو هغه په داسې نا علاجه مرض پروت وه چې د معالجې چانس یې کم وه چې ورسته د څوهفتو دهغه د مرګ احوال د زیړ ګل تر غوږو ورسید ۰
زیړ ګل ددې خواشینې کونکې خبر د لاسه کولو سره سم د پوهنتون اداري ته لاړ اد هغو د مشورې او اجازې وروسته ځان کلي ته ورساوه او په ډیر اعزاز او قدر سره یې د خپل تره چې د پلار حیثیت یې ورته لره جنازه جګه او د تدفین مراسم تر سره کړل او د شین خالې او کاکا نـاوې د راتلونکې ژوند په فکر کې پاته شو ۰

شین خالې ته د پلار او دهغې مور ته د خاوند مړینه ډیر لویه ضایعه وه خـو د ا هرڅه د رب کارونه دي، څه چې د خدای رضا وی هغه کیږي او انسانان پدې کې هیڅ نشي کولای غیر له دې څخه چې د لوی خدای له درباره هغه او ټولو مسلمانانو ته دې د مغفرت دعا وکړي۰
زیړ ګل د یوه اونۍ په جریان کې د ماتم وروسته خپلو درسو ته راغـې او د پوهنتون د لیلیې پـه جومات کې هم د فاتحې مراسم تر سره کړل چې د پوهنتون ډیری محصلین ، استادان ، کارکونکو او د زیړ ګل دوستانو پدې مراسمو کې برخه واخسته۰
ماښام د مراسمو ورسته زیړ ګل د پوهنتون دلیلې خونې ته راغې او د شین خالې او د هـغې د مور راتلونکې ژوند په فکر کې ډوب شو ۰

زیړ ګل ته دا موقه ډیره حساسه وه ،او نه پوهیده چې څه وکړي ، له یوې خوا تحصیل او د بلې خوا شین خالې او کاکا ناوې او د هغو جوړ ، ناجوړ او یواځې توب ، کلی، پوله او پتې دا هغه مسایل وه چې زیړ ګل باید یو معقول او منطقي لاره ور ته غوره کړي وای، کله به یې له ځانه سره دا تصمیم نیوه چې درس او تحصیل پریږدي او کلي ته لاړ شي او هلته په خپلو کروندو کې کار وکړي ، دبلې خوا د هغه دا څلور کلن د رس اوتحصیل اودهغه راتلونکې دا هغه پوښتنې وې چې هغه یې تر سبا خوب ته پرې ننبود او سبا په پریشانه افکارو د درس په لور روان شو ۰

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

زیړ ګل تمامه ورځ په همدې سوچونو کې ډوب او دحل منطقي لیار لټوله او هر چا مختلف وړاندیزونه ورته کول خو د شین خالې او اکا ناوې تنها پریښودل په کلي کې یې ورته مشوره نه ورکوله او د یو معقول تصمیم نیول یې ورته توصیه کوله۰

دزیړ ګل کله چې درسي پروګرام پای ته ورسید خپلې خونې ته راستون شو ،درسي کتابونه یې په الماری کې ځای پر ځای کړل او د خونې نظم یې برابر کړ او څه دمې ورسته د مازیګر د لمانځه لپاره یې تیاري ونیوله ، اودس یې تازه کړ او د پوهنتون جومات ته لاړ او د لمانځه د ادا کولو وروروسته یې لوی رب ته د دوعالاسونه جګ او داسې دوعا وکړه۰

پاکه ربه !
ته هغو ته عزت ورکوې کوم چې ستا په لارې سم وې او هغوی د ذلت سزوار دي کوم چې ریا کاران دي۰

عزت یې شې نصیب چې ربه ستا په لیارې سم دي
ذلت په هغه چا چې د ریا په لیارې سم دي

پاکه خدایه !
ژوند په تیریدو دي خو سر لوړي د هغوده چې ستا په پاکې او محمدي لارې سم وي۰

تیر بېړې قافلې د زمانې نن او سبا کې
سر لوړي به وي څوک چې د الله په لیارې سم دي

لویه ربه !
تا انسانان اشرف المخلوقات پیدا کړي نو لازمه ده چې ستا بنده ګان ځانله داخرت تحفه برابره کړي۰

انسان لري ډیر لوړه مرتبه تر بل مخلوقه
زیبیږي ورته کړه چې د عقبا په لیارې سم دي

الهي !
زاهد په عبادت د زهد مرتبې ته اوسخي په سخاوت دستا د زړه رضا حاصلول غواړي ،هغه

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

سجدې او هغه سخاوت چې خاص ستا د رضا لپاره وي خدایه په خپل دربار کې قبول وګرځوې ۰

زاهـــد پـــه عـبادت رسي دزهـــد مرتبې تـــه
سجـدې يې شې پخې چـــې درضا په لیارې سم دي
سخي پـــه سخاوت بانـــدي حاصل د زړو رضا کړي
منـلی بـــه وي څوک چې د سخا پـــه لیارې سم دي

الهې !
ژوند عبث تیرول متاع نلرې او مورِته دا وس او توان راکړې چې دعمر تر پایه د مصطفی ص دپاکې او سمې لارې پیروان او صادقه مومنان وګرځو ۰

ژونـدون هسې عبـث چې تیروي متاع یـــې څـــه ده
پیـــرو د سمې لیار د مصطفی پـــه لیارې ســـم دي

لویه ربه !
ستا دربار ته مې ددوعا لاسونه جګ کړي چې زمورِ مړي وښښه او مورِ ته دا توان راکه چې د ژوند په ستونزو کې ستا د رضا او ترحم نه همیش برخوردار ه اوسو ۰

درګا تـــــه دي الله زه افغانـــي لاس پـــه دعا یـــم
مطلب ته رسـي څوک چـــې د دعا پـــه لیارې سم دي

سمه لیار

عزت يې شې نصیب چې ربه ستا پـه لیارې سم دي
ذلـت پـــه هـــغـه چا چـــې د ریا پـــه لیارې سم دي
تیـــربـــرې قافلـــې د زمانـــې نـــن او سبا کـــې
سر لورې به وي څـوک چـــې د الله پـه لیارې سم دي
انســان لـري ډیـــر لـــورِه مرتبـــه تر بل مخلوقـه
زیبیرې ورته کـــرِه چـــې د عقبا پـــه لیارې سم دي
زاهـــد پـــه عـبادت رسي د زهـــد مرتبې تـــه

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

سجـدې يې شې پخې چـې درضا په ليارې سم دي
سخي پـه سخاوت بانـدي حاصل د زړو رضا کړي
منـلی بـــه وي څوک چې د سخا پـــه ليارې سم دي
ژونـدون هسې عبـث چې تيروي متاع يـې څـــه ده
پيـــرو د سمې ليار د مصطفی پـــه ليارې ســم دي
درګا تـــــه دي الله زه افغانـــي لاس پـــه دعا يـــم
مطلب ته رسـي څوک چـې د دعا پـــه ليارې سم دي

****



دیارلسمه برخه

شین خالی

زیړ ګل ورو سته له ډیر غور، د ملګرو د خړ ګندونو او مشورو څخه دې پایلې ته ورسید چې د اکا د مړینې وروسته به په کلي کې د شین خالی او د کاکا ناوې یوازې پریښودل سمه خبره نه وي ،همدا وجه وه چې دا یې وپتیله چې د پو هنتون لیلیه پریږدي او د پوهنتون په نژدې سیمو کې کرایي کور پیدا کړي او خپله کوژدنه شین خالی او د هغې مور د کلي څخه راولـي او دلته نوی ژوند پیل کړی تر څوله یوې خوا خپلو زده کړو ته ادامه ورکـړي او له بلې خوا شیـــن خالی او د هـغې د مور څخه مطمئن شي او د ژوند په ستونزو او خوښیو کې د هغو څخه له نژدې نه څارنه او لا س رسی وکړي ۰

زیړ ګل سره پدې برخه کې د هغه د وستانو په تیره بیا د خونې ملګرو ډیرې مرستې وکړي ،کرایي کور یې ورته پیدا کړ او د کلي څخه د کور په کډه او د اړتیا وړ توکو په انتقال کې پوره لاس ورکړ ،هغه داسې چې د اونی په آخرو رخصتیو کې یې یولوې بس موټر په کراکړ او د زیړ ګل سره یوځای

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

کلي ته لاړل او د هغو بار او بستر او دارتیا ور ټوکي يې راټول او پـــه بس کې ځای پرځاي کړل او همدارنګه د دهقان او زيږ ګل په مشوره دهقان يې د زيږ ګل دو ی کلاتـــه کډه کړ ترڅو دځارويو ، ځمکو او کلا څخه ځارنه او سرپرستي وکړي ۰

کله چې د زيږ ګل کډه بار شوه ،دکلي اوسيدونکي زاړه ،ځوانان ،ماشومان او د شين خالې خور لنډې بې مخه ښې اوخداي پامانې ته راغلې وې ، د کلي خلک د هغو په جلا کيدو ډيرخواشينې

او خفه شوي وه اودحسرت اوښکې بې ترسترګو تويدلې ،خودشين خالې خورلنډو اويوشمير د کلي ښځوبيا په چيغو چيغو ژړل چې په رښتيا سره دکلی والي ساده او بې الايشه ژوند د زړونو پاکوالی اود صداقته ډکه فضا پداسې حالت کې د ورايه په سترګو کيده ۰
شين خالې او موريې د دوستانو سره د خدای پامانې غيږې ورکړې اوپه غـــمزپلی او د تاثره ډک حالت کې بس ته وختل او د مرکز په لورې حرکت وکړ او د کلي خلکو د تبرک په دو د ددوی د امن په دعا په دودیزه توګه سپينې او رونې اوبه په هغو پسې وشيندلې ۰

شين خالې او مورته يې په اوله کې ښاري ژوند ستونزه مند وه ، هغود کلي اوښاري ژوند تفاوتونه له نژدې احساسولې ، دلته نور دکلا د انګړ په څير د تنور لمبې نه جګيدې او د شين خالې خور لنډو هغې ته دخميره شوو اوړو ځغالې نه برابرولې اونه شين خالې په تنورکې د ډوډې د پخولو لپاره سر په پورې تړه بلکه خوږې ډوډۍ يې نژدې د ډوډۍ پخونې هټۍ څخه رانيولې ۰
دلته نور دکلو خلکو سره د شيروار لپار د کټې وهلو حاجت نشـــته وه او نه د لوشلشوې غوا شدې په نغرې ويشول کيدې ، دلته هر څه د کلو څخه راتلل او نژدې هټيوالو مستې او شدې د خرڅلاو لپاره لرلې ۰
دلته نور د دامان ځمکو ته د هر قسم سبولکه ورخارې، ليچی ۰څارمی ،اخنک ، غنم رنګی ، تازه شوتلو او ترکاريو راټولولو حاجت نه نشته وه ، د لته هر رنـــګ ميوې ترکاري او حـبوبات د نژدې پلورنځيو څخه ترلاسه کيدې ۰ دلته ښاري ژوند ځانله ډيرې اسانتياوې لرلې خود کلي ازاده هوا او فضا او کليوالې ژوند او خوند بيا کمرنګه وه ۰
شين خالې او موريې ورو ورو د ښاري ژوند سره اشنا بې ترلاسه کوله ، اوس نور نو زيږ ګل ته حاجت نه وه چې د درس څخه وروسته کور ته خرڅ راوړي بلکه شين خالې خـــپله د بازار څخه د ارتیا ور مواد را نيول ۰
شن خالې او موريې ځانله نوي دوستان پيدا کړي وه او د ګاونډيانو سره بې راشه درشه لرله خو دا

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

راشه درشه د کلی په پرتله تر یوه حده بله بڼه اورنګ درلود۰

په همدې ډول زیړګل خپل تحصل تر شپږم کال او بیا یو بل کال چې هغه هم د پرکتیک یا عملي ډاکتري دوره وه د خپل کوژدنې او کا کا ناوې سره په مرکز کې تیر کړل چې بیا زیړ ګل پس له پرکتیک او عملي دورې نه له ډیره زحمتونو او کړاونو سره سره په ډیر متانت او پــه لوړه کچه د طب د پوهنځي د فراغت دیپلوم تر لاسه کړ۰

زیړګل تر فراغت ورسته د کاکا ناوې سره په مشورې دې نتجې ته ورسیــدل چې د خپلې کوژدنې شین خالۍ سره دواده مراسم په خپل کلي کې په شور اوشوق د دوستانو اوعزیزانو سره یو ځای تر سره کړي چې په همدې مقصد دوظیفې د ځای تر ټاکنې پورې کلي ته راغلل تر څو په خپل کلي کې د واده تیاری ونیسي۰

کلي ته په رسیدلو د کلي د اوسیدونکو سره د روغبړ وروسته زیړګل ،شیــن خالۍ او مورو یې د کلی هدیرو ته لاړل ، د اکا او ټولو مسلمانانو روح ته یې ددوعا لاسونــه جګ او د لــوی خدای له درباره څخه یې هغو ته د فردوس جنت هیله وکړه او تر هغه وروســته په خپــلو ځمکو او کروند و وګرځیدل او د لوي خدای شکران یې ادا کړ چې بیا ورته دا موقع برابره شو چې بیا په خپلو ځمکو۰ کلو او باندې و راغلل او کلیوالی ژوند د نعماتو څخه برخه مند شول۰
زیړ ګل ، شین خالۍ او مورته یې د کلي اوسیدونکو د هغو بیرته کلي تــه د راستنیدو په ویاړ په وار سره میلمستیاوې جوړې کړې او هغوی بې ونازول۰

یوه اونی وروسته زیړګل ، کاکا ناوې ، شین خالۍ او خورلنــې یې د کلي دیوشمیر نور دوستانو سره د ولایت بازارته د واده د خرید په مقصد لاړل اوترناوخته بې هغه د واده ضروري شیان راونیول کوم چې زیړ ګل اوکاکا ناوې دمخه په لست کې یاداشت کړې وه خو د هر ټوکي په خرید کې د شین خالۍ او د هغې د خورلنې خوښه حتمي وه۰
کله چې زیړ ګل دواده ټوکي کورته ورسول نو د نیکه بڼ ته لاړه او د بڼ په صوفه کې خبل څادر هوار کړه او د څو شیبو د ارام په هیله سر په تیګه کیښود او د کلیوالي ژوند ، خوند او دوستانو سره د ټنګ ټکور په اړه یې داسې زمزمه تر خولې ووتله:

محــفــل چې د یارانو ټنګ ټکور سره مزه کا

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

خوښي او خوشحـــالي د کلي کور سره مزه کا

زيړ ګل چې د شين خالې تل خاطر ساته ، د هغې د جګې پوزې د چارګل ښکلاه داسې ستايله:

پروا مـــې د اشنا پـــه ځان منـــلې ده نو ځکه
ليلاخيالي چارګل په پزې سپور سره مزه کا

هغه دژوند او د ژوندانه کار ،زحمت اوسترېا داسې تعريفوله :

د ژوند په اوږدو لارو منزلونو اوسترېا کـــې
دا ټول جار اوجنجال بيا د زړه زور سره مزه کا

زيړ ګل په ژوند کې د يو تحرک ، شور او شوق په اړه داسې ويل :

څوک ناست دی غمازي کا څوک دښکلو سودا ګردی
د ا ژوند او کارو باريې شوق او شور سره مزه کا

او د خپلې شين خالې د قد ، قامت او ښکلا داسې زمزمه کوله :

ځواني چې مې د يار قد او قامت سره ښکلا ده
خالـــونه يې په مخ کې درې څلور سره مزه کا

او په اخرکې يې د خپل مينې شين خالې په ليدو د هغې په اړه داسې اظهار کاوه :

ديدن ته چـــې د يار په افغاني وعده ورځمه
سور شال يې پلو داره په سر خور سره مزه کا

غـــزل

محـفـــل چې د يارانو ټينګ ټکور سره مزه کا
خوښي او خوشحـــالي د کلي کور سره مزه کا

پروا مـــې د اشنا پـــه ځان منـــلې ده نو ځکه
ليلاخيالي چارګل په پزې سپور سره مزه کا

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

د ژوند په اوږدو لارو منزلونو اوسترړيا کـــې
دا ټول جار اوجنجال بيا د زړه زور سره مزه کا

څوک ناست دی غمازي کا څوک دښکلو سودا گردی
د ا ژوند اوکارو باريې شوق اوشورسره مزه کا

ځواني چې مې دياررقد او قامت سره ښکلا ده
خالـــونه يې په مـخ کې درې څلور سره مزه کا

ديدن ته چـــې د يار په افغاني وعده ورځمه
سور شال يې پلو داره په سر خور سره مزه کا
****

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library



شین خالۍ

ډاکترزیړګل دواده لپاره پوره تیاري نیولې وه ،هغه د کاکا ناوې په مصلحت دحاصلا تود زیرمو دخونې څخه د واده داړتیا وړ وریـــجې، اوړه اونورې غلې، دا نې دبزګرپه مرسته د تللووروسته اشپزې ته سپارلې وي او همدارنګه د خپلو څـارویو څخه یې توربخن سخوندر او یو ترکی وری حلال اوغوښه یې د پخولو لپاره برخې برخې کړې وه ۰

هغه د واده کارتونه د کلي د نائي په لاس نژدې او لرو دوستانو ته لیږلي وه او هم د ښځینه میلمنولپاره یې د زرلښتې دپلار لعل میر آکا کورچې په ګاونډکې وه فرش اوسمبال کړی وه اوهمدارنګه د نارینه میلمنو لپاره یې د آکا په بڼ کې چیرته چې دپخلي کارونه هم ترسره کیدل ځاې بر ابرکړې وه او د ټنګ ټکور لپاره یې مشهور سندرغاړي ګل محمد استاد چې په منطقه کې د پوره شهرت خاوند وه د محلي سند رغـاړي سړه چې په ګلرنګ مشهور وه بیانه کړي وه او دکلا بهر یې ورته ځای په ګلمونو ، توشکو او کټونو سمبال کړې وه ۰

مازیګر میلمانه ورو وروپه راتلو پیل وکړ چې د ډاکتر زیړګل او د کلي اوسیدونکو به ورته هر کلی وایه او سمبال شوې ځای ته به بدرګه کیدل او هلته د هغو د ناستې سره سم مؤظفو کسانو به د لاس پرمینځلو او به راوړلې او د ډوډۍ سررشته به ورته ونیول شوه ۰ کله چې به میلمنو ډوډۍ نوش جان کړه تر هغه وروسته به د ټنګ ټکور ځاې ته بدرګه کیدل او هلته به د چای ، اوبو او چلم تدابیر ورته نیول کیده او مؤظف کسانو به د میلمنو خیال ساته ۰

څه شیبې ورسته د میلمنو د خوښې لپار سازیان راغله ، ګلکې استاد او ګلرنګ سره آرمونیې تر غاړې کړې او مستې بګتۍ ، چاربیتې او داستانونو په ویلو سره د حاضرینو له خوا په چک چکو

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

بدرګه کيدل ۰
د واده مراسم تر ناوخته دوام درلود ، هلته د زرخانګي پلار لعل ميرآکا په کور کې چې د ښځينه ميلمنو لپار تياري نيول شوی وه ، د شين خالې د واده مراسم هم هلته تر سره کيد ل ، چې د شين خالې خور لنډو د کلی ښځو او نژدې دوستانو سره د داريا په وهلو ، سندرو او نڅا محفل ته خوشاله بڼه ورکړې وه ۰
په همدې ترتيب ټنګ ټکورد شپې تر ناوخته دوام وکړ ، دنژدې کليو ميلمانه ورو ورو په رخصتيدو شول ۰
سبا د چای او سبا نــاري وروسته د کلی ملا ، سپين ګيری ، نــژدی دوستانو او مشرانو په ګډون د ډاکتر زيړ ګل او شين خالې نکاح د اسلامي اصولو سره سم وترله چې د نکاح ورسته د دوستانو له خوا ډاکتر زيړ ګل ، شين خالې او مور ته مبارکی وويل شوه ، حاضرينو په ناوی او ډاکټر زيړ ګل نقل ، پتاسې او ميده پيسې وشيندلې. او سازيانو بيا خپل ټنګ ټکور تــه ادامه ورکړ چې د کلې فضا د خوښی او خوشالې فضا ګرزيدلې وه ۰

مازيګر ځوانانو ډولې جوړه کړه او د لعل ميرآکا کورته لاړل او ورسته له يو لړ مراسمو شين خالې په ډولې کې سپره او خپل پــلارني کورته د ساز ، سندر او خوشحاليو په بدرګه راوستله چې په همدې ترتيب ډاکتر زيړ ګل او شين خالې پس له کلونو زحماتو او کړاونو خپل پاکو هيلو او ارمانو ته ورسيدل ۰

د شين خالې او ډاکتر زيړ ګل لا د واده شپږ مياشتې نه وې تيرې شوې چې په هيواد کې د پردو مداخله ګرانو او کورنۍ خرڅ شوو د افغا ن او افغانيت دښمنانو زمونږ د بې ګناه خلکو په کلو او بانډو داسې لوبې او محشر جوړ کړ چې زمونږ ډير بې ګناه خلک بې شهيدان ، معيوب او د وطن څخه بې ا جباري مهاجرتونو ته اړ باستل چې زيړ ګل ، شين خالې او د کاکا ناوې هم ددې ناتارپه پايله کې ګاونډ ملک ته مها جر او د افغانانو په کمپونو کې هستوګن شول ۰

ډاکتر زيړ ګل او شين خالې ته پس له څو مياشتو په مهاجرت کې خداې يوه لور په نصيب کړه چې ښايسته نوم يې پرې کيښود او ښايسته لکه د خپل مور شين خالې ښکلې نجلکې وه ۰
زيړ ګل ته د ا د کمپونو ژوند لکه د کمپ نورو او سيدونکو افغانانو په شان د کړاوه ډک ژوند وه او پس له ډيرو اندينښنو دې پايلې ته ورسيد چې په هرډول وې ځان له دې بدحالته وباسي چې پس له ډيرو هلو ځلو زحمــت او کړاونو د خپل لــور ، شين خالې او کاکا ناوې سره ځان اروپايي هيواد ته

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

ورساوه چې ورسته له ډيرو پښتنو ، منډو او رامنډو ورته د اقامت يا اوسيدنې اسناد او اجازه ورکړل شوه.

ډاکتر زيړګل اوس په اروپا کې ډاکتر نه بلکه په يو رستورانت کې په مشقته کارو بوخت او د مهاجرت شپې اوورځې سبا کوي.

د تأسف خبره خو داده چې زمونږ ډير شمير هيوادوال د پوهې ، تعليم او د مسلک خاوندان چې په وطن کې دملت په مصرف د پوهې او مسلک رتبې ته رسيدلي دي په غير مسلکي اوشاقه کارونو بوخت دي چې د ډاکتر زيړګل او شين خالې د ژوند کيسه ددې خبرې يوه ژوندۍ او وړه شاني بيلګه ده .
زيړګل په مهاجرت کې دکار او زحمت تر څنګ دخپل پولې ، پټې او کورچې دوخت زور واکانو تر غصب کړې وه په شاعرانه احساس داسې يادونه کوي :

زمونږ دکلي هغه کور
هغه ختين ديوال کې لور
هغه نغرې د لرګو اور
چا رانه واخسته په زور ؟

هغه د خپل د کلې د کور ماحول داسې تمثيلوي :

دکور په مينځ کې وه بياله
هغه د انګورو ښه چيله
يکې يو ښکلې شان حجره
اوس ېې احتياج کړلو دنور
چا رانه واخسته په زور؟

د کلا د باغچې او حجرې په اړه تير وختونه داسې يا دوي:

ښکلې باغچه دميلمنو
دخنې ورو شا ځلمو
وه د خوښۍ او بدو شپو

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

اوس راته پاته دی پيغور
چـــا رانه واخسته په زور ؟

او د لوټمارو چور او چپاول ددوی په کور او هستي داسې بيان کوي:
چا ترينه ويوړې دروازې
هم بې کرکۍ ماتې ښيښې
نـــې د تنورخـــيژي لمبې
اوس لوټې لوټې دی نسکور
چـــا رانه واخسته په زور ؟

او خپل د مهاجرژوند راتلونکي ته داسې د شک په سترګو ګوري:
يمه مـــحتاج د بل وطن
نه مې شته کورنه مې مدفن
وي بـــه د هجـــرځانکندن
مات زړونه څنګه شي ټکور
چـــا رانه واخسته په زور ؟

زيړ ګل دلوی خداې په دربار کې د دعا لاسونه اوچت او دا دوعا وکړه :
ربـــه موږ ستا يو بنده ګان
له تـــانه غواړو موږ امان
يو زوريدلـــي په بد شان
که ته زموږه شـــې غمخور
چـــا رانه واخسته په زور ؟

او په آخر کې بې د وطن د آبادي او سولې لپاره داسې هيله وکړه :
چـــې ګران وطن موشي آباد
دغـــه غمجن زړونه شي ښاد
دســـره جـــوړ شي دا بنياد

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

افغاني بياشـــوکـــلی کور
چـــا رانه واخسته په زور ؟

زمورِ دکلي هغه کور

زمـــورِ دکلي هغه کـور
هغه ختين ديوال کې لور
هـــا نغری د لرګـــو اور
چا رانه واخسته په زور ؟

دکور په مينځ کې وه بياله
هـــا د انګـــورو ښه چيله
پکې يو ښکلې شان حجره
اوس ېې احتياج کړلو دنور
چـــا رانه واخسته په زور؟

ښکلې باغچـــه دميلمنو
دخـــنه ورو شـــا ځلمو
وه د خوښۍ او بدو شپو
اوس راته پاته دی پيغور
چـــا رانه واخسته په زور ؟

چا ترينه ويوړې دروازې
هم ېې کرکۍ ماتې ښيښې
نـــې د تنورخـــيژي لمبې
اوس لوټې لوټې دی نسکور
چـــا رانه واخسته په زور ؟

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

یمه مـــحتاج د بل وطن
نه مې شته کورنه مې مدفن
وي بـــه د هجـــرځانکندن
مات زړونه څنګه شي ټکور
چـــا رانه واخسته په زور ؟

ربـــه مورږ ستا یو بنده ګان
له تـــانه غواړو مورږ امان
یو زوریدلـــي په بد شان
که ته زمورږه شـــې غمخور
چـــا رانه واخسته په زور ؟

چـــې ګران وطن موشي آباد
دغـــه غمجن زړونه شي ښاد
دســـره جـــورږ شي دا بنیاد
افغاني بیاشـــوکـــلی کور
چـــا رانه واخسته په زور ؟
****

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library



د شين خالۍ کيسه د انځوريزې شاعرۍ يوه ژوندۍ بيلګه ۰

افغاني حسن جوړ شنو خالو دی
چې بې وړی زړګی په پلمو دی

درنــو لوستونکو !

شين خالۍ دهيواد دمعاصر شاعر اوليکوال ښاغلی سميع الدين افغاني يونوې اثر دی چې دادب مينه والو ته يې وړاندې کوي ۰

هــو ! دښاغلی سميع الدين افغاني څيړنيز ،علمي او ادبــي اثرچې دليکوالۍ اوشاعرۍ په تاريخ کې يوه نوې پاڼه ، روش او لاره په ګوته کړې ده چې شعر بې دشاعر د خيـال ددنيـا څـخه دتصـوير او حقيقت پــه شـکل ژوندی ترسيم کړی دی ۰

ددې اثر په روان کې شين خالۍ د زړه راز اونياز دخپلې مورسره په لاندی ډول شريکوي:

ځان چې مې سينګارکړه بيانوځمه دګدر په لور
موري دهــمزولــو سره نــن دمــازديګرپه لور
ډيربــه شم خوشحاله چې ديارشم دنظر په لور
اچوم ټکريــی چې افغاني کلتورمو ښکلی دی
موري بنجاره مــامــا راغلي دی

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

داهغه نوې تګلاره ، روش او سبک دی چې معاصرو اوراتلونکو ځوانو شاعرانو ، لیکوالانو او خوږژبې هنرمندانو لپاره ددې عصر د سمندر دځپاندې څپو څخه ساحل ته درسیدلو لار هواروي. ددې اثر په لوستلو دهغه لارښود د اصولو په رڼا کې چې افغاني صیب په ګوتو کړي تر اوسه پورې داسې نسخه او لارښود لا چا پخوا اوبیا تر دې دمه نه دی وړاندی کړی. چې وروسته لدې به ځوان لیکوالان ، شاعران او خوږژبې هنرمندان تر لازمه ګټه اخلي .

پدې اثرکې هغه حساس او په زړه پورې تکیوته لاس ورغزول شوی چې په هغه کې خیال او فکر ته کوم چې د شاعر په شعر کې انځور شوی ،دعمل جامه اغوستی او هغه انځور چې لوستونکو او اوریدونکو نه شوکولای په شعر او اواز کې ژوندی مجسم کړي ،ده ورته علمي نسخه لیکلی او هغه نامرئی اومجهوله غوټه ېې په ډیرروښانه ډول پرانیستی ده چې د شعراو ادب په دنیا کې یو نوې بدلون ګنلای شو. دبیلګې په توګه دشین خالی ناول چې یوانځوریزه او د شاعر ریښتینی داستان دی، د زمان او وخت د ناخوالو اومحدودیتونو ، رسم ، رواج او کلتوري بندیزونو پر بنسټ بل رنګ بل نوم بل زمان اوبل مکان ورته ورکړ شوی د ی .

د ښاغلی سمیع الدین افغانی په دی اثر کې اصلي هیرو او اتل نه شو کولې چې حقیقت په اصل رنګ بیان اومجبوریتونو دده شعر اوداستان د خیال او فکر په ټال کې انځور کړي اویا داچې یو سلسله محدو دیتونو اوتنګ ماحول ، لرې والی او فراق ، عنعنې او رواجونه شاعر خپل د زړه او فکراحساس د قلم په ژبه انځور او تصویروي ، لکه چې وایې:

راشه چې سپرلی دې شم ګلزار دې شم
راشه چې د بدې ورځې یار دې شم
ستا د پاکې مینې محبت کې یار
ژوند شمه ورمه شمه بهار دې شم

یا وائي:

نه شته بلاه لار ، نه بل تدبیر چیرې
راشه چې مرهم دې شم قرار دې شم

ولې افغاني صیب دا د قفس دروازه ور خلاصه، بندونه او دیوالونه ئې ور ونړول او وی شو کولای چې ددی اثر په رڼا کې خیال اوفکرته د عمل جامه ور په ځان کړي اوحقیقي انخور اوتصویر

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

لوستونکو او اوریدونکو ته ور په لاس کړي، لکه د شین خالې کوژدن زیړګل چې دهغې په وړاندیز او خوښه دشین خالې دخورلنډې زرځانګې دواده لپاره څه ولیکي او د هغې دواده په محفل کې د ساز او اواز سره یو ځای د هغه د خوښي په شپه کې ېې په خپل خوارې اوز کې مینه والو ته واوروي:

شپې دې د برات شه شه کلونه دې اختر
پل دې بختور شه ناوې پل دې بختور

پل دې بختورشه ناوې مینه کې دې کورشو
نوې اشنایي شوه نوی بل د مینې اور شو
ستا د حسن شمعه چې روښانه په هر لورشو
حسن دې ښکلا دې چیرې مه شه د نظر
پل دې بختور شه ناوې پل دې بختور

هو ! که زمونږ معاصره شاعران او لیکوالان د افغاني صیب د نوی تګ لاری پر بنسټ خپل اشعار د قیود او بند څخه وکاږی زمان یا مکان ورته قید نکړي ، بندونه او خنډونه ونړوي او د خپل شعر انځور او داستان په خیال او فکر کې محدود نکړي بلکه یو ژوندی تصویر او جسم ورته ورکړي چې ترڅو په ډیره سادګۍ ېې خوږ ژبي هنرمندان په خپلو خوارو اوازونو کې کمپوز، کلیپ او خپلو اوریدونکو اولیدونکو ته ډالۍ کړي.
نو کله چې شعري ملغرلې د قلم په ژبه دکاغذ په مخ کې پیل شي او هنر مند ورته په خوږ اواز، ښکلي کمپوز او کلیپ کې ژوندی، ژوند ورکړي لکه د افغاني صیب دا لاندې شعرچې د وطن اوپرګنو تکړه او خوږ ژبي سندرغاړي محترم طاهر شباب په خوارې او زړه وړونکي اوازکې کمپوز اوکلیپ شوی اولرا وبرپښتونخوا اوټولو افغانانو د خوښی محافل رنګینوی او اوریدونکې ېې په شوق ،او احساس اوري او خوندترې اخلي.
د یادولو وړ ده چې دا سندره نه تنها زمونږ په ګران هیواد کې بلکه په نړیواله کچه په ځانګړی توګه په هندی ، عربی او انګلیسی ژبو کې هم کمپوز شوې ده چې ډیر اوریدونکي او مینه والري:

ستا په اننګو کې
چې د چا دوینې رنګ دی

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ketabton.com - The Digital Library

زمـا د پـــاکـي مـيـنـي
حقيقت پـــکي څـرګند دی

ما ويل ښکلي دي ځواني ده
دي ويـــل مينـــه رسوايي ده
مـــا ويل زه دي ليـــونی کړم
دي ويل يارمي غنم رنګ دی

مـــا ويـــل راشه مازيګر ته
دي ويـــل دربـــه شم ګدر ته
مـــا ويـــل لاره به دي څارم
ويل منګی مي شين په څنګ دی

هو ! داوه يوه لنډه يادونه چې ما د افغاني صيب د نوي اثر په لوستلو په سپيڅلي هيلې او مسؤو ليت وليکله او تاسی درنو لوستونکو ته يی په ډير درناوی وړاندی کوم ۰
زه افغاني صيب ته د لوی خدای لـه دربـاره د سلامتی او اوږده عمر هيله کوم ،ترڅونورهم د شعر اوادب په برخه کې نوي اوپه زړه پوری مطالب چې ورسـره شته وليکي او دادب مينه والـو ته ئې وړاندې کړي۰
همدارنګه د قلم په لاس ليکوالانو ، شاعـرانـو اوصاحب نـظرانو څخه په درناوي هيله کوم چې ددي ليکنې د لا پياوړ تيا او غنـي کيدو لپار خپلې رغنده وړانديزونه ، نظريات او ليکنې د ادب مينه والو سره شريکې کړي۰

ومن الله توفيـق
نجـم الـدين سعيـدي
۲۰۱۰ - ۵ - ۲۰ م کال
برول - جرمني

*** ******

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English